OMB No. 1615-0067; Expires 01/31/2023

# I-589 فورم د پناه‌غوښتنې لپاره او له اخراج څخه د مخنوي غوښتنلیک

**د کورني امنیت وزارت**
د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر
**د متحده ایالتونو د عدلیې وزارت**
د کډوالی پلټنې لپاره اجرائیه دفتر

**[1 مخ]**

**لارښوونې**

**د دغه فورم هدف څه شی دی؟**
دغه فورم په متحده ایالتونو کې د پناه اخېستونکې او د اخراج مخنیوي لپاره ( چې پخوا « اخراج مخنیوی» په نوم یادیده) کارول کېږي. له دغه پروګرام څخه همدارنګه د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنسټ د ساتنې لپاره استفاده کیدای شي. که په فزیکي ډول په متحده ایالتونو کې ژوند کوئ،او د متحده ایالتونو تابیعت نه لرئ، کولای شئ دغه غوښتنلیک ثبت کړئ.

یادونه: که متحده ایالتونو ته له دننه کیدو وروسته د 1 کال په ترڅ کې مو د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کړئ، مګر دا چې شرایط مو داسې بدل شي چې پناه‌اخېستنې لپاره مو د شرایطو برابروالي بهیر تر اغېزې لاندې راولي او په فوق العاده شرایطو کې یاستئ چې په مستقیم ډول د 1 کال په ترڅ کې ستاسو دوسیې نه وړاندې کولو پورې اړوند وي. ( د C برخې لازیات وضاحت لپاره، **ستاسو د غوښتنلیک په اړه اضافي معلومات د V خانګې د 1 برخې** لارښوونو کې وګورئ.)

که چېرې میرمن/ خاوند او تر 21 کلنۍ کم عمره مجرد اولادونه لرئ چې په فزیکي بڼه په متحده ایالتونو کې ژوند کوي، نومونه یې په خپل غوښتنلیک کې ځای کړئ. تاسو باید د لارښوونې مطابق د خاوند/ ښځه او اولادونو پورې اړوند ځانګړې اسناد وړاندې کړئ. 21 کلن یا له هغه څخه د لوړ عمر متاهل اولاد ته باید بېل غوښتنلیک وړاندې کړئ. که چېرې پناه درکړل شوې وي او له 21 لاندې مجرد اولادونه له متحده ایالتونو بهر وي، د پناه اخېستنې او پناه‌غوښتنې له ورته اسانتیاوو څخه د استفادې لپاره I-730 فورم وړاندې کړئ.

**د لارښوونې برخې: د غوښتنلیک پراوونو بشپړولو بڼې او ثبت باره کې معلومات**

لارښوونې په دوو برخو وېشل کېږي:

لومړی برخه معلومات د دوسیې د ثبت لپاره دي. دغه برخه د شرایطو برابروالي اساسي معیارونو باندې بحث کوي او د غوښتنلیک ډک کولو او ثبت باره کې درته لارښوونه کوي.

دویمه برخه ستاسو د غوښتنلیک پراوونو بشپړولو په اړه وضاحت ورکوي. دغه برخه همدارنګه د غوښتنلیک پلټنې بهیر کې د شته لنډمهالو آسانتیاوو بهیر هم توضیح کوي.

لارښوونې په کره توګه ولولئ ځکه چې مرسته درسره کوي څو خپل غوښتنلیک بشپړ او د پړاوونو بشپړولو بهیر درک کړئ. که چېرې د شرایطو برابروالي، د فورمې بشپړولو بڼې او پناه‌اخېستنې بهیر په اړه پوښتنه لرئ، کولای شئ له یو شخصي وکیل یا بل په شرایطو برابر کس څخه مرسته وغواړئ او یا مو لارښود څخه مشوره وغواړئ (IV برخه، د وکیل درلودلو حق، I برخه کې وګورئ)

***خبرداری:*** **هغه غوښتوونکې چې په متحده ایالتونو کې په ناقانونه توګه ژوند کوي، که چېرې یې د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک د پناه اخېستې افسر یا د کډوالۍ کوم قاضي لەخوا تأیید نەشي، ښایي واپستل شي. هر ډول معلومات چې د دغه غوښتنلیک د بشپړولو په اړه وړاندې کوئ، ښایي د دوسیې چمتو کولو د بنسټ یا د واپستلو لپاره د سند په توګه ورنه استفاده وي، حتی په هغه حالت کې چې وروسته د غوښتنلیک څخه انصراف هم وکړئ.**

**هغه متقاضیان چې تشخیص شوي په پوهاوي سره یې د پناه‌اخېستنې لپاره ناکاره غوښتنلیک وړاندې کړی، د تل لپاره د کډوال او ملیت قانون(INA) هیڅ ډول آسانتیا ور نه‌ګټل کېږي. که چېرې له دې امله چې کوم شخص له کوم دلیل پرته درته مشوره درکړې او تاسو په ناسم معلومات د پناه‌اخېستنې په غوښتنلیک وړاندې کړې، نه‌شئ کولای په دې سره له خپل دغه ناسم کار څخه ډډه وکړئ.**

**که چېرې مو دوسیه د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ دفتر (USCIS) کې په ټاکلې وخت ثبت نه‌شي او یا د مرکې پرمهال حاضر نه‌شئ او یا د بایومتریک ( لکه د ګوتې نښه) او نور بیوګرافیکي معلومات وځنډوئ، په دغه حالت کې ښایي د شرایطو برابروالي جواز مو وځنډېږي او حتی د پناه‌اخېستنې افسر ستاسو د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک مسترد او یا مو اسناد د کډوالۍ چارو قاضي ته راجع کړي. په شرایطو برابر غوښتوونکي او اړوند کسان د اخراج په پراونو کې چې له موجه دلیل پرته د بایمتریکي یا د بیوګرافۍ معلومات د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ دفتر (USCIS) دفتر ته نه‌وي وړاندې کړي، ښایي غوښتنلیک د کډوالۍ قاضي له‌خوا مسترد شي. د کډوالۍ اوملیت قانون (INA) 208(d)(5)(A) او 208(d)(6) برخې او د فدرال مقرري 8 کوډ (CFR) 208.10, 1208.10, 208.20, 1003.47(d), او یا هم 1208.20 برخې وګورئ.**

یوازې د غیر رسمي استفادې لپاره

د مطالبو لړلیک


**1 برخه . د لاربښونو ثبت......2**

I. څوک کولای شي غوښتنلیک وړاندي کړي او د دوسیي د ثبت مهلت......2

II. له شرایطو سره د برابروالي اساسات......3

A. پناه‌اخېستنه ......3

B. له اخراج څخه مخنیوی ......3

C. د شکنجې ضد کنرانسیون پر بنسټ د اخراج ځنډیدل ......4

D. په شرایطو برابروالي لپاره قانوني سرچيني......4

III. محرمیت......4

IV. د وکیل درلودلو حق ......4

V. د فورم ترلاسه کول او بشپړول......5

**A.I برخه.** ستاسو په اړه معلومات ......5

**A.II برخه.** میره/ خاوند او اولادونه ......5

**A.III برخه.** ستاسو د مخيني په اړه معلومات......6

**B برخه.** ستاسو د غوښتنلیک په اړه معلومات......6

**C برخه.** ستاسو د غوښتنلیک په اړه اضافي معلومات......6

**D برخه.** ستاسو لاسلیک ......7

**E برخه.** که مو په خپله نه‌وي چمتو کړی د فورم د چمتوکوونکي لاسلیک......7

**F برخه.** د امکان په صورت کي د پناه‌اخېستني غونډې بشپړول ......7

**G برخه.** د امکان په صورت کي د اخراج غونډې بشپړول ......7

VI. د اړتیا وړ اسناد او کاپیاني چي باید له غوښتنلیک سره یې وړاندي کړئ......8

VII. هغه اضافي اسناد چي باید وړاندي شي......8

VIII. فیسونه / لګښونه ......8

IX. د انځور او ګوتي نښي په شمول بایومتریک ......8

X. ستاسو د غوښتنلیک تنظیم......9

XI. د پناه‌اخېستني لپاره نیمګړی غوښتنلیکونه.. ......9

XII. چیرته یې ثبت کړو ؟ ......9

**2 برخه. د چمتو کولو او ثبت وروسته الزامیت پوري اړوند معلومات......12**

I. د پتي بدلون پر مهال کي د اعلان الزامیت......12

II. پناه‌اخېستني مرکي بهیر......12

III. د انتظار حالت کي غوښتنلیک پرمهال ستاسو وضعیت ......12

IV. له متحده ایالتونو څخه بهر سفر......13

**V. د غوښتنلیک پلټني پړاو کي د کار جواز......13**

**VI. د (USCIS)د خصوصي حریم ساتلو اعلامیه......13**

**د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) فورمي او معلومات ......13**

**جریمي......13**


جواز د غیر رسمي استفادي لپاره

د پراوونو بشپړولو قدمو راکمولو قانون (دفتري کار)...................................................................................... 13
د 589-I فورم، ضميمي...................................................................................................... 14

يوازې د غير رسمي استفادې لپاره

**1برخه . د لاربښوونو ثبت**

**I. څوک کولای شي غوښتنلیک وړاندې کړي او د دوسیې د ثبت مهلت**

کولای شئ د خپلې کډوالۍ وضعیت له په پام کې نیولو پرته حتی که په ناقانونه توګه هم په متحده ایالتونو کې ژوند وکړئ، د پناه اخیستې غوښتنلیک وړاندې کړئ، مګر دا چې په قانون او مقرراتو کې په بل ډول تسجیل شوي وي.

**کولای شئ متحده ایالتونو ته له ننه کېدو وروسته د 1 کال په موده خپل غوښتنلیک وړاندې کړئ، مګر دا چې ثابته کړئ له داسې بدل شویو شرایطو سره برابر یاستئ دچې پناه‌اخیستنې برخه کې ستاسو پر صلاحیتونو اغېز کوي او یا فوق‌العاده شرایط لرئ چې د 1 کال په موده کې ستاسو د دوسیې ثبت پر وړاندې خنډ جوړوي ( IV برخه، د وکیل درلودلو حق، I برخې لاربښوونې وګورئ.)**

بې سرپرسته پردی ماشوم (UAC) یوه حقوقي اصطلاح ده او په متحده ایالتونو کې هغه بې تابیعته ماشوم ته اشاره کوي چې متحده ایالتونو کې د کډوالۍ هیڅ ډول قانوني وضعیت نه‌لري، لا یې هم د 18 کلنۍ عمر نه‌وي پوره کړی؛ او په متحده ایالتونو کې هیڅ ډول والدین، سرپرست او قانوني قیم نه‌لري همدارنګه هیڅ کوم قانوني سرپرست او والدین د هغه فزیکي مراقبت او حضانت لپاره نه‌وي. له ملګري پرته پردی ماشوم(UAC) 6 (2)(g)279. برخه وګورئ. د پناه‌اخیستنې څانګه بې سرپرسته پردی ماشوم (UAC) د پناه‌اخیستنې غوښتنلیک ته په لومړنۍ‌کچه د رسیدنې صلاحیت لري، البته هغه بې سرپرسته پردی ماشوم (UAC) په شمول چې د کډوالۍ قاضي سره یې د اخراج بهیر ثبت شوی وي. بې سرپرسته پردی ماشوم (UAC) د پناه‌اخیستې بهیر په اړه لازیات معلوماتو لپاره په [www.uscis.gov/humanitarian/ refugees-asylum/asylum/minor-children-applying-asylum- themselves] د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.

بې سرپرسته پردی ماشوم (UAC) ثبت تشریحي لاربښوونو لپاره **د 1 برخې XII** څانګه کې لاربښوونه شته دي.

که چېرې مو د پناه‌اخیستنې غوښتنلیک د کډوالۍ قاضي یا د کډوالي استیناف پلاوي له‌خوا مسترد شوی وي، باید وښیئ چې شرایط داسې بدل شوي چې ستاسو پر کډوالۍ اغېز کوي.

ستاسو د پناه‌اخیستنې په اړه د تأییدي تصمیم هغه مهال نیول کېږي چې د پناه‌اخیستنې له یو افسر سره د پناه‌اخیستنې مرکه ولرئ او د کډوالۍ قاضي سره مو استماعیه غونډه ترسر کوي وي. حتی د پورته یادو شویو دلایلو پر بنسټ د پناه‌اخیستنې غوښتنلیک په شرایطو برابر ونه‌ګڼل شئ، ښایي د کډوالۍ او ملیت قانون (INA) (3)(b)241 برخې مطابق د اخراج څخه د مخنیوي غوښتنلیک په شرایطو برابر واوسئ او یا د ځورونې ضد کنوانسیون مطابق په کډوالۍ محکمه کې د اخراج مخنیوی غوښتنلیک وړاندې کولو وړ واوسئ.

د قانون 48 بند د (7)(A)1806 برخې مطابق که چېرې بې سرپرسته پردی ماشوم (UAC) په فزیکي بڼه په شمالي ټول‌ګټو جزیرو کې واوسي، یا وردننه شي د 2020 کال جنوری تر 1 پورې نه‌شي کولای د پناه اخیستنې غوښتنلیک وړاندې کړي؛ په همدې حال کې کولای شي له I-589 فورم څخه په استفادې د پناه‌اخیستنې او اخراج مخنیوي لپاره د کډوالۍ محکمې د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنسټ له اخراج څخه د مخنیوي او ساتنې لپاره غوښتنلیک وړاندې کړ.

**[3 مخ]**

**1 برخه. د لاربښوونو ثبت (دوام)**

**II. له شرایطو سره د برابروالي اساسات**

**A. پناه‌اخیستنه**

د پناه‌اخیستنې پر شرایطو برابروالي په موخه باید دا ثابته کړئ چې د ځور زیاتي له امله او یا د ځورزیاتي له ویرې نه‌شئ کولای یا نه‌غواړئ خپل اصلي هېواد ته ستانه شئ یا تابعیت نه‌لري، خپل لومړني استوګنځی مو چې په دې وروستیو کې ژوند پکې کاوه، د توکم، مذهب، ملیت، یوې ځانګړې ټولنیز ګروپ کې د غړیتوب یا سیاسي عقایدو له امله خپل پرېښی وي. دا په دې معنی ده چې باید ثابته کړئ چې د توکم، مذهب، ملیت، یوې ځانګړې ټولنیز ګروپ کې د غړیتوب یا سیاسي عقاید مو د ځورونې او شنکجې اصلي لامل دی یا وي به. (د کډوالۍ او ملیت قانون (INA) 208 او فدرال مقرري(CFR) کوډ 8 ، 208، 1، 208 برخې یا نورې هغه وګورئ.)

**که تاسو ته پناه درکړل شي او له خپلې میرمن/ میره او اولادونه مو په هغو شرایطو برابر وي چې په غوښتنلیک کې مو درج کړي، کولای شئ په متحده ایالتونو کې پاتې شي،** کار وکړئ او بالاخره به له دایمي قانوني وضعیت سره جوړجاړی وموميئ. **که پناه در نه‌کړل شي، د کورني امنیت وزرات (DHS) ښایي هغه معلومات چې په دغه** غوښتنلیک کې مو وړاندې کړئ، له متحده ایالتونو څخه ستاسو د اخراج د تشخیص په موخه استفاده وکړئ.

**B. له اخراج څخه مخنیوی**

ستاسو د پناه‌اخیستنې غوښتنلیک هم د کډوالۍ او ملیت قانون (INA)، د (3)(b)241 برخې پر بنسټ او د قانون بیاکتنه ته په پام سره نیول کېږي. همدارنګه مو که چېرې په پورتنې جبعه کې د فورم **1 پاڼه** نښه کړی وي او یا له هېواد څخه په وتو کې د ځورونې شواهد وښیې، کیدی شي د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنسټ له اخراج څخه د مخنیوي په موخه د غوښتنلیک وړاندې کولو (د فدرال مقررې 8 کوډ (1)(c)208.13 او (1)(c)1208.13 برخې وګورئ) که پناه درنه‌کړل شي، ښایي له اخراج څخه د مخنیوی په شرایطو برابر وګڼل شي.

له اخراج څخه د مخنیوی غوښتنلیک له په پام کې نیولو پرته به له اخراج څخه د مخنیوي شرایطو وړ ونه اوسئ، که چېرې:

1. په ځورونه کې له نازیانو سره همکار وئ، او یا مو په نسل وژنه کې ګډون کړی وي؛
2. بل کس مو ځورولی او شنکجه کړی وي؛
3. د جنایت په تېره بیا جدي جنایت له امله د قطعي حکم پر بنسټ محکوم شوي واوسي چې دا متحده ایالتونو ټولنې لپاره خطر ګڼل کېږي؛
4. له متحده ایالتو څخه بهر په جدی غیر سیاسي جرمونو محکوم شوی یاست؛ یا
5. د متحده ایالتونو د امنیت لپاره خطر واوسئ (د کډوالۍ او ملیت قانون (INA)؛ (3)(b)241 برخه او د فدرال مقررې(CFR) 8 کوډ، 208.16 او 1208.16 برخې وګورئ)

**له اخراج څخه د مخنیوي لپاره د کډوالۍ او ملیت قانون (INA) (3)(b)241 برخه**

د دې لپاره چې د کډوالۍ او ملیت قانون (INA) د (3)(b)241 برخې پر بنسټ له اخراج څخه د مخنیوي شرایطو باندې برابر واوسئ، باید دا ثابته کړئ چې په احتمالي توګه د توم، مذهب، ملیت، په ځانګړیو ټولنیزو ګروپونو کې د غړیتوب یا سیاسي عقایدو له امله له هېواده واېستل شوي او له خطر سره مخ یاست.

که چېرې مو د اخراج په اړه حکم ترلاسه کړی وي، نه‌شئ کیدای، هغه هېواد ته چې ژوند او آزادۍ مو له ګواښ سره مخ وي، ولېږدول شئ. په دې معنې چې ښایي داسې دریېم هېواد ته ولېږدول شئ چې په هغه کې ستاسو ژوند او آزادي له خطر سره مخ ونه اوسي. له اخراج څخه مخنیوی په هیڅ صورت سره هم ستاسو له میړه/ خاوند یا اولاد پورې مقید نه‌دی چې په غوښتنلیک کې مو درج کړي دي؛ هغوی باید په خپله د دغه ډول ملاتړ لپاره اقدام وکړي.

که چېرې مو له اخراج څخه د مخنیوي غوښتنلیک تأیید شي، دا حق نه‌درکوو چې خپلوان مو متحده ایالتونو ته راوغواړئ. همدارنګه په متحده ایالتونو کې د دایمي اقامت غوښتنلیک حق هم نه‌درکول کېږي.

**د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنسټ له اخراج څخه مخنیوی**

د شکنجې ضد کنوانسیون د ملګرو ملتونو سازمان د شکنجې ضد کنوانسیون د ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکي چلند نورو تګلارو ته اشاره کوي.

له بهر څخه بل هېواد ته د اخراج مخنیوي اجازې ترلاسه کولو لپاره، د شکنجې ضد کنوانسیون 3 مادې او د متحده ایالتونو نافذه قوانینو مطابق، باید دا وښیئ چې ښایي په هغه هېواد کې ستاسو شکنجې کچه لوړه شي.

د فدرال مقررې (CFR) 8 کوډ (a)208.18 او (a)1208.18 برخو « شکنجه» تعریف کړې چې په هغه کې د شکنجې ضد کنوانسیون د 1مادې تعریفونه او د متحده ایالتونو نافذه قوانین هم شامل دي، عملي ګڼل کېږي، هر ډول افراطي چلندونه او غیرانساني کړنې په‌کې شاملې دي چې د جسمي او روحي درد او رنځ لامل کېږي او باید په ځانګړې توګه د شدید درد او رنځ رامنځته کولو لپاره وي.

شکنجه هغه عمل دی چې د معلوماتو ترلاسه کولو، یا قرباني او دریېو کسو څخه د اعتراف ترلاسه کولو، د هغه عمل له امله د قرباني مجازات چې هغه یا دریېم کس ترسره کړی وي او یاهم د هغه په ترسره کولو باندې شکمن یا تورن وي، پر قرباني د ارعاب یا جبر په بنه یا دریېم کس یا د تبعیض د نورو ډولونو پر بنسټ ترسره کېږي.

شکنجه باید د یو دولتي یا شخصي کس له‌خوا، په تحریک، حکم یا رضایت سره چې په رسمي مقام کې وي، ترسره شي. قرباني باید د شکنجه کوونکي تر کنټرول او یا بند کې وي. په شکنجه کې هغه درد او رنځ نه شاملېږي چې یوازې د قانوني، ذاتي، تحریم یا عارضي څخه زېږنده وي، ښایي دغه ډول اقدامات د شکنجې مخنیوی کنوانسینو موخې او هدف نقض نه‌کړي.

د یو کس په توګه ستاسو د I-589 فورم ثبت او ډک کول د اخراج مخنیوي له غوښتنلیک سره د اخراج د مخنیوی په اړه د شکنجې مخنیوي کنوانسیون پر بنست شمېرل کېږي او که د کډوالۍ قاضي ته ووایئ چې غواړئ هغه غوښتنلیک مو چې د شنکجې ضد کنوانسیون پر بنست په پام کې ونیول شي او یا داسې شواهد وړاندې کړئ چې بل هغه هېواد ته چې ښایي ولېږدول شئ، شکنجه شئ.

**[4 مخ]**

د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنسټ له اخراج څخه د مخنیوی غوښتنلیک لپاره باید د پورتنۍ جبعې **1 مخ** نښه کړئ او I-589 فورم په بشپړ ډول ډک کړئ.

باید په دې اړه چې له شکنجې ویره لرئ، د خپل غوښتنلیک د **B برخې، 4 پوښتنې** برخو کې باید ځواب او تفصیلي توضیح وړاندې کړئ. باید د هر ډول چلند په اړه چې تجربه کړي مو دي یا هر ګواښ چې ستاسو پر وړاندې د یو دولت یا دولت پورې اړوند کس له‌خوا ترسره شي، ځواب ولیکئ.

یوازې د کډوالۍ قاضیان او د کډوالۍ د استیناف پلاوی کولای شي د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنسټ د اخراج یا د اخراج د ځنډ حکم صادر کړي. که مو د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کړئ، د کډوالۍ قاضي لومړی د کډوالۍ او ملیت قانون(INA) د 208 برخې مطابق او د کډوالۍ او ملیت قانون(INA) قانون (3)(b)241 برخې مطابق د نه اخراج تثبیتوي. د کډوالۍ او ملیت قانون(INA) او که چېرې د کډوالۍ او ملیت قانون(INA) د (3)(b)241 برخې مطابق مستحق ونه‌ګڼل شئ، د کډوالۍ قاضي بل هېواد ته چې د شنکجې له اړخه ونه وېرېږئ د شنکنجې ضد کنوانسیون د اخراج مخنیوي پر بنسټ ټاکل کېږي.

څرنګه چې د متحده ایالتونو په قوانینو کې تسجیل او نافذ شوي او د متحده ایالتونو د شکنجې ضد کنوانسیون 3 مادې پر بنسټ بل هېواد ته مو د استولو لپاره چې ښایي لازیات له شکنجې سره مخ شئ، منع کوي. خو د متحده ایالتونو د شکنجې ضد کنوانسیون تاسو له هغه هېواد څخه له استولو نه منع کوي چې په‌کې نه شکنجه کېږي. دا په دې معنې ده چې ښایي دریېم هېواد ته ولېږدول شئ چې په‌کې نه شکنجه کېږئ. د متحده ایالتونو د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنسټ ستاسو له اخراج څخه مخنیوی اجازه نه‌درکول کېږي چې په متحده ایالتونو کې دایمي اقامت، د خپلې کورنۍ د غړیو لېږد یا یې اقامت لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ.

**C. د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنسټ د اخراج ځنډول**

که دا احتمال زیات وی چې په بل هېواد شکنجه کېږي، خو اخراج څخه د مخنیوی له شرایطو سره برابر نه یاستئ د فدرال مقررې (CFR) ۸ کوډ په (a)208.18 او (a)1208.18 برخو مطابق ستاسو اخراج ځنډول کېږي. د اخراج ځنډول هیڅکله هم په متحده ایالتونو کې د کډوالۍ دایمي یا قانوني وضعیت په معنې نه‌دی او په الزامي توګه مو له بند څخه د آزادۍ لامل نه‌کېږي.

ستاسو د اخراج ځنډ یوازې د ټاکلي وخت تر پای‌ته رسیدو پورې د تطبیق وړ دي. د اخراج ځنډ په پلټنې او د وخت په پای ته رسیدو پورې اړه لري که چېرې دا تشخیص شي چې په احتمالي توګه په هغه هېواد کې چې ستاسو استول ورته ځنډیدلي، شکنجه نه‌شئ او وخت یې پاته رسېږي یا دا چې د ځنډ د الغا غوښتنلیک وړاندې کړئ.

**D. د شرایطو برابروالي لاربښود او قانوني سرچینې**

لاندې اسناد د کډوالۍ او ملیت قانون(INA) د (3)(b)241 برخې او د شکجې ضد کنوانسین پر بنسټ له اخراج څخه د مخنیوی، پناه‌اخېستنې او اخراج مخنیوي او یا د اخراج

اړوندو لاربنودونو ا و قانوني مواردو څخه عبارت دي

دغه سرچني یوازې د رجعت ورکولو په توګه وړاندې شوي دي. د خپل غوښتنلیک بشپړولو لپاره هغو ته د مراجعې اړتیا نه‌لرئ

1. د کډوالی او ملیت قانون(INA) (42)(a)101 برخه او د فډرال مقررې 8 کوډ (42)(a)1101 برخه ، «د پناه‌اخیستوونکیو» تعریف)؛
2. د کډوالی او ملیت قانون(INA) 208 برخه او د فډرال مقررې 8 کوډ 1158 برخه( د پناه‌اخیستونکیو لپاره د شرایطو برابروالی)؛
3. د کډوالی او ملیت قانون(INA) (3)(b)241 برخه او د فډرال مقررې 8 کوډ (3)(b)1231 برخه (د اخراج څخه د مخنیوی د شرایطو برابروالی)
4. دفډرال مقررې (CFR) 8 کوډ 103.2، 208 او 1208 برخه سرلیک او پاتې برخې؛
5. د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او سپکووني کړنو پر وړاندې کنوانسیون 3 مه ماده چې (b)2242 یا د بهرنیو چارو اصلاحاتو او د جوړښتونو نوي کولو قانون، 1998کال، د فډرال مقررې (CFR) 8 کوډ 208 برخه، د شکنجې ضد کنوانسیون بیاکتل شوي مقرر، 64 FR 8478-8492 لندمهالی قانون (د 19 فبروري مه، 1999) د انفاذ نېټه(مارچ22 مه، 1999)؛ 64 FR 13881 مارچ32 مه، 1999)؛
6. د پناه اخیستونکیو د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو سازمان 1967 پروتوکول؛
7. د پناه‌اخیستوونکیو د وضعیت اړوند 1951 کنوانسیون؛ او
8. پناه‌اخیستوونکیو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمیشنری د بهیرونو او وضعیت ټاکلو لاربنودونه. (ژنیو، 1992)

## III. محرمیت

د خپل غوښتنلیک په اړه د تصمیمنیوني لپاره به د راټولولو معلوماتو څخه استفاده وشي. همدارنګه ښایي دغه معلومات له نورو دولتي سازمانونو ( ایالتي، فډرال، ځایي او بهرني) د ګټو په اړه له قضاوت څخه زېږنده مسایلو، جزایي او مدني موضوعګانو په اړه د قانوني اقدام یا موخو د تحقق لپاره وړاندې شي. خو هغه هېواد یا دولت ته به چې له ځوروني او شکنجې ویرې په‌کې احساسوي ستاسو د پناه‌اخیستني مندرج معلومات هیڅ کله وړاندې نه‌شي. د فډرال مقررې (CFR) 8 کوډ په 208.6 او (1208.6برخې مطابق د پناه‌اخیستني غوښتنلیکونو څخه به د محرم سند په توګه استفاده کېږي.

## IV. د وکیل درلودلو حق

د پناه‌اخیستني او له اخراج څخه د مخنیوي یا څنډ په اړه د کډوالی قانون ډېر پیچلی دی. حق لرئ چې د پناه‌اخیستني په مرکه او کډوالی محکمه کډوالی پړاوونو بشپړولو پر مهال د متحده ایالتونو دولت ته لګښت ورکولو پرته خپل حقوقي وکیل معرفي کړئ.

که چېرې د فورم بشپړولو برخه کې مرستي ته اړتیا لرئ او د خپلو لیکلو څرګندونو چمتو کولو پر مهال غواړئ مرسته درسره وشي، نو دا ممکنه ده چې د خپل وکیل ( وړیا) یا شته رضاکارانو بنسټونو څخه مرسته وغواړئ. رضاکاره بنسټونه به له پیسو پرته یا کم لګښت سره درسره مرسته وکړي او په لیست کې چې د شته وکیلانو نومونه درج دي، له لګښت پرته ستاسو دوسیه پلټي. که چېرې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) یا کډوالی محکمې څخه د وکیلانو او معتبرو استازیو لیست نه‌وي ترلاسه کړئ له **1-800-870-3676** شمېرې سره اړیکه ونیسئ او د متحده ایالتونو له عدلیې وزارت (DOJ)، د کډوالی پلټنې اجرائیه ریاست (EOIR) او [www.justice.gov/eoir/list-pro-bono-legal-service-providers- map](http://www.justice.gov/eoir/list-pro-bono-legal-service-providers-map) ویب سایټ څخه لیسټ ترلاسه کړئ.

**[ 5 مخ]**

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری (UNHCR) ښایي د وګړیو په معرفي کې درسره مرسته وکړي څو ستاسو د غوښتنلیک په بشپړولو کې همکاري وکړي، نړیواله مرجع RefWorld، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری (UNHCR) کې د سرچینو یو **[www.refworld.org](http://www.refworld.org)** ډېټابس موجود دی چې له بېلابېلو سرچینو څخه ګټور معلومات درته وړاندې کوي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری (UNHCR) د اړیکې شمېرې عبارت دي، له:


د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری (UNHCR) **United Nations High Commissioner for Refugees**
**1800 Massachusetts Avenue NW, Suite 500 -**
**Washington, DC 20036 -**
تلیفون: **Telephone: 202-296-5191**
برېښنالیک: **Email: [usawa@unhcr.org](mailto:usawa@unhcr.org)**
وب سایټ: **Website: [www.unhcr.org](http://www.unhcr.org)**


**له بندخونو او زندانونو سره اړیکې:** هغه پناه‌غوښتوونکي چې په بند خونو یا زندانونو کې دي کولای شي د دوشنبې، چهارشنبې او جمعې په ورځو کې د ماسپښین 2 - 5 بجو پورې ( ختیځ معیاري وخت) #566 او یا **1-888-272-1913** وړتیا شمېرې سره د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری (UNHCR) اړیکه ونیسئ.

## V. فورم ترلاسه کول او بشپړول

د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) فورم په اړه وړیا شمېرې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) په ویب سایټ کې وړاندې شوي. زموږ د فورمو د چاپ یا ډک کولو لپاره Adobe Reader ډاونلوډ کړئ کوم چې تاسو کولای شئ د لاندې ویب سایټ څخه وړیا ډاونلوډ کړئ [http://get.adobe.com/reader/](http://get.adobe.com/reader/). او که انټرنیټ ته لاسرسی نه‌لرئ کولای شئ په **1-800-375-5283** (TTY **1-800-767-1833**) شمېرو سره د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) سره اړیکه ونیسئ او ورنه وغواړئ چې فورم درته پسټ کړي. د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) د اړیکو مرکز په انګلیسي او هسپانوي ژبو معلومات وړاندې کوي.

تاسو باید خپل ټول ځوابونه په تور رنګ قلم سره I-589 فورم کې ټایپ او چاپ کړئ. ستاسو ځوابونه باید په انګلیسي ژبه وړاندې شي. بشپړ شوي فورمونه که له انګلیسي پرته په بله ژبه وي، مستردېږي. تاسو باید د ځان او خپلې کورنۍ په اړه غوښتل شوي ځانګړي معلومات وړاندې **او ټولې پوښتنې ځواب کړئ.**

که چېرې پوښتنه ستاسو له وضعیت سره برابره نه وي یا د غوښتل شویو معلوماتو په اړه نه پوهېږئ په «none هیڅ کوم یو»، «not applicable د تطبیق وړ نه‌دی» یا unknownنابلد »»سره یې ځواب کړئ.

باید کره معلومات وړاندې کړئ چې د امکان تر حده پوښتنې ځواب کړي. که چېرې مو غوښتنلیک په ناسمو معلوماتو سره ثبت وي، ښایي د نقض شوي په بڼه بېرته درته مسترد کړو. که چېرې لازیاتو ځوابونو ته اړتیا لرئ، I-589 فورمA او یا B ضمیمې (چې د پروګرام په کڅوړه کې شته) او یا اضافي پاڼې ضمیمه کړئ او د هغو پوښتنو شمېره/ شمېرې چې ځواب مو یې لیکئ په اضافي ضمیمه پاڼه کې ثبت کړئ.

په ټینګار سره درنه غوښتل کېږي چې د مکتوب څرګندونې یا نور اسناد چې ستاسو ادعا تأییدوي، ضمیمه کړئ. په لیکلو څرګندونو کې باید هغه پیښې، نېټه د تجربو جزئیات شامل وي چې ستاسو د پناه اخېستنې غوښتنلیک پورې اړوندې وي.

**یادونه:** د پردي ثبت شمېره (ای نمبرA-Number) (د شتون په صورت کې)، خپل نوم ( څرنګه چې د فورم په **A.I برخه کې** راغلي) لاسلیک او نېټه د فورم په هره پاڼه، هره ضمیموي پاڼه او همدارنګه د ملاتړو اسنادو پر مخ ولیکئ.

کولای شئ خپل غوښتنلیک د پناه‌اخېستنې مرکې پر مهال د پناه‌اخېستنې افسر او یا د کډوالۍ محکمې په غونډه کې د پناه‌اخېستنې په اړه د لازیاتو معلوماتو او توضیحاتو وړاندې کولو پر مهال اصلاح یا بشپړ کړئ

**A.I برخه. ستاسو په اړه معلومات**

خپل لومړني معلومات مو په دې برخه کې غوښتل شوي دي. د پردي ثبت شمېره (ای نمبر A-Number) د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) دوسیې شمېرې ته اشاره کوي، که له مخکې (ای نمبر A-Number) نه‌لرئ د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) یوه شمېره درته ځانګړې کوي.

تاسو باید په متحده ایالتونو کې د خپل استوګنځای د سرک پته ( هغه پته چې په فزیکي بڼه په‌کې ژوند کوئ، د پناه اخېستې غوښتنلیک د **8 پوښتنې په A.I برخه کې** ولیکئ.) همدارنګه کولای شئ **9 پوښتنې** ته یو توپیر لرونکې پستې پته چې هلته ژوند کوئ ځواب وړاندې کړئ. د **9 پوښتنې** په ځواب که بل کس ستاسو د مکتوبونو شېمرې ستاسو له پستي پتې یا یې ستاسو لپاره راټولوي د هغه کس نوم په «In Care Of مراقبت » برخه کې درج کړئ. که چېرې مو پته پستي صندوق وي، هغه په **9 شمېره** پوښتنه کې درج کړئ او په **8** پوښتنه کې د خپل اوسیدو ځای پته ولیکئ.

**13پوښتنه** د اوسني هېواد له نوم څخه استفاده وکړئ، له تاریخي، قومي، ولایتي/ آیالتي او ځایي نومونو څخه استفاده مه‌کوئ.

که له پلټنې وروسته هېواد ته دننه شوي یاست I-94 فورم**19b پوښتنې** پورې تړاو لري چې له هغې شمېرې څخه عبارت ده چې پهI-94 فورم کې دننه کېدو ـ وتو فورمه ده چې متحده ایالتونو ته د دننه کېدو پر مهال درکړل شوي ده. په **19c پوښتنه** کې نېټه او وضعیت څرنګه چې په I-94فورم کې ښودل شوی درج کړئ که مو I-94 فورم نه‌وي ترلاسه کړی« None هیڅ» ولیکئ. که د کډوالۍ افسر له پلټنې پرته راننه شوي یاست،په**19c پوښتنه** کې د خپل اوصلي وضعیت یا« No Inspection له پلټنې پرته» ولیکئ.

**A.II برخه. مېره/ ښځه او اولادونه**

تاسو باید خپلې ښځې/ مېره او اولادونو ( اسکه اولادونه، مړو شویو اولادونو، هغه کسان مو چې خپل اولادونه ګڼې، ماشومانو او لویانو) د هغوی د سن، مدني وضعیت(متاهل) او دا چې په متحده ایالتونو کې دي، په دغه غوښنلیک کې درج کړي یا مو نه‌دي درج کړي یا مو د پناه‌اخېستنې جلا ـ جلا غوښتنلیکونه وړاندې کړي، په لیسټ کې درج کړئ

له دې سربېره که په متحده ایالتونو کې یاستئ او ښځه/ مېره یا له21 کلنۍ کم عمره مجرد اولادونه د پناه‌اخېستنې په غوښتنلیک کې درج کړئ. متاهل او له 21 پورته عمر لرونکیو اولادونو ته پناه‌اخېستنې لپاره باید I-589 فورم ډک کړئ. د پناه‌اخېستنې په غوښتنلیک کې د ښځې/ مېره یا اولادونو شاملول په دې معنی دی که چېرې د متحده ایالتونونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) او دکډوالۍ پلټنې لپاره اجرائیه دفتر (EOIR) ستاسو غوښتنلیک تأیید کړي، ستاسو د ښځې/ مېره او اولادونو غوښتنلیک به هم تأیید شي.

له بل لوري، که چېرې د پناه‌اخېستنې لپاره تأیید نه‌شوئ، ستاسو ښځه/ مېره او اولادونه هم نه تأییدېږي.

که چېرې د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک د کډوالۍ محکمې د اقداماتو پر مهال وړاندې کړئ، د کډوالۍ قاضي ښایي ستاسو د ښځې/ مېره د پناه ورکولو صلاحیت چې په غوښتنلیک شامل دی خو په شرحه کې نه‌دی موجود، تأیید نه‌کړي.

**[6 مخ]**

کله چې د کورنۍ غړي د پناه‌اخېستنې په غوښتنلیک کې شاملوئ، باید د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک یوه اضافي کاپي د کورنۍ په اړه لومړنیو اسناده سره د خپلې کورنۍ هر غړي ته ثبت کړئ چې په لاندې شرحې سره دي:

1. که مو ښځه/ مېره په غوښتنلیک کې شامل کړی، د نکاح خط درې کاپۍ او که طلاق رامنځته شوی وي، د خپل پخواني مېره/ پخوانۍ ښځې د طلاق خط درې کاپۍ وړاندې کړئ.
2. که مو 21 کلنۍ کم عمره مجرد اولاد په غوښتنلیک کې شامل کړی وي، د هر ماشوم د زېږدو سند درې ـ درې کاپۍ راواستوئ.

که دغه سندونه نه‌لرئ یا نه‌شئ کولای هغه ترلاسه کړئ، باید ثانوي اسناد او شواهد وړاندې کړئ. په ثانوي شواهدو کې دغه موارد شامل خو ور پورې محدود نه‌دي: روغتیایي سوابق، مذهبي سوابق، تحصیلي سوابق او همدارنګه کولای شي هره هغه پیښنه چې د اثبات لپاره یې هڅه کوئ، کم له کمه د یو کس سوګندپانه راواستوئ. سوګندپانه ښایي د خپلوانو یا نورو کسانو له‌خوا وړاندې شي. هغه کسان چې لوړه کوي باید د متحده ایالتونو تبعه یا دایمي قانوني مقیم ونه اوسي.

**سوګندپانه باید:**

1. د بحث وړ موقعيت، وضعيت او پيښي په بشپړ ډول تشريح کړئ چې ياد کس له دغي پيښي/ پيښو څخه څنګه او څه ډول خبر شوی دی؛

2. ياد سوګند د هغه کس لهخوا چې د پيښي پرمهال ژوندي وي او دغه پېښه ( پيښي) چې تاسو يي د اثبات په لټه کي ياست ( د زېږون نېټه او ځای، واده او داسي نور) په مشخص ډول خبري کړئ؛ او

3. د هر هغه کس بشپړ نوم، پته، د زېږيدو ځای او نېټه چې لوړه کوي، وښيئ او ستاسو او لوړه کوونکي ترمنځ هر ډول اړيکه څرګنده کړئ.

که چېري ثانوي اسناد يا سوګندپاڼه وړاندي کوئ، بايد دا څرګنده کړئ چې ولي لومړنيو اسناد و( لکه د زېږون سند يا نکاح خط) ته لاسرسی نهلرئ. کولای شي اسنادو د نه لاسرسي دلايل I-589 او B ضميمي څخه په استفادې په اضافي پاڼو کي تشريح کړئ. دغه توضيحات له ثانوي اسنادو او سوګندپاڼي سره ضميمه کړئ.

که چېري مو د اولادونو شمېر له څلورو څخه زيات وي، د هر اضافي اولاد لپاره I-589 فورم او A ضميمه شېره کړئ او يا هغه اضافي اسناد او پاڼي چې **په A.II برخه کي** د فورم I-589 د هغوی غوښتل شوي معلومات ښيي، ضميمه کړئ.

**A.III برخه. ستاسو د مخيني په اړه معلومات**

**1 - 5 پوښتني** په غوښتل شويو جزئياتو سره ځواب کړئ. ستاسو ځوابونه د هغو سيمو په اړه چې ژوند مو پهکي کړی او همدارنګه تحصيلي سوابق او کاري مخيني په اړه دي او بايد په معکوس زماني ترتيب سره يعني له اوسيدو ځای، تحصيل، اوسنی دندي څخه يي په ترتيب سره پيل او پخوا زمانو سره يي پای ته ورسوئ.

**B برخه. ستاسو د غوښتنليک په اړه معلومات**

د پوښتني دغه ځانګړي برخي د اړوند قانون (3)(b)241 برخي د شکنجې ضد کنوانسيون پر بنسټ له اخراج څخه د مخنيوي او د پناهاخېستني شرايطو برابروالي اړوند دي. د**1 پوښتني** جبعه د دغو غوښتنو د بشپړولو دليل پر وړاندي نښه کړئ. د نوري پوښتنو لپاره « هو» او يا «نه» چې په جبعه کي وړاندي شوي، نښه کړئ.

که هري پوښتني ته د «هو» ځواب ورکړئ، د اړتيا په صورت کي له فورم I-589، B ضميمي څخه په استفادي يي په اضافي پاڼو کي توضيح کړئ.

تاسو بايد خپله هره تجربه، د خپلي کورنی د غړيو تجربي او نورو هغو چې ورته تجربي لرئ چې ستاسو پناهاخېستنه ښيي، په څرګنده توګه تشريح کړئ.

که مو کوم زيان تجربه کړی، چې ليکل او بيانول يي درته ستونزمن وي، بايد پوه شئ چې دعه تجربي ښايي په متحده ايالتونو کي ستاسو پاتي کيدو لپاره د غوښتنليک په اړه تصميم نيوني بهير کي ډېر مهم وي. د پناه اخېستني له يو افسر سره د مرکي يا د کډوالی قاضي سره د محکمي په غونډه بايد ګډون ته چمتو واوسئ د هغو زيانونو په اړه چې ليدلي مو دي، خبري وکړئ. که پخوانيو پيښنو په اړه خبرو کولو کي ستونزه لرئ، وړاندېز درته کوو چې له خپل يو وکيل يا معتبر استازي سره له يو روغتيايي متخصص سره خبري وکړئ ښايي هغه مرسته درسره وکړي څو خپلي اوسنی وضعيت او تجربي توضيح کړئ.

**C برخه. ستاسو د غوښتنليک په اړه اضافي معلومات**

په وړاندي شوي جعبه کي د هري پوښتني په مقابل کي د «هو» يا «نه» نښه کړئ که چېري هره پوښتنه په «هو» سره ځوابوئ، د اړتيا په صورک کي د I-589 فورم B ضميمي څخه استفاده وکړئ يا يي اضافي پاڼو کي تشريح کړئ.

که **5 پوښتنه** په «هو» سره ځوابوئ، بايد دا توضيح کړئ چې ولي مو متحده ايالتونو ته رسيدو يو کال وروسته د پناهاخېستني غوښتنليک نهدی وړاندي کړی. دولت ستاسو په هېواد کي د شرايطو بدلون لپاره ځانګړي بدلونونه راوستي. تاسو په خپله د ځانګړيو شرايطو له بدلون او نورو پيښو څخه چې ښايي ستاسو د غوښتنليک د ژر وړاندي کولو پر وړاندي يي خنډ جوړ کړی، په تشريحي ښه منئ.

د بېلګي په ډول ځيني پيښي ښايي د معتبرو توضيحاتو په توګه په پام کي ونيسي، لاندي موارد پهکي شامل خو ور پوري محدود نهدي:

1. پوهېږئ چې په هېواد کي مو بشري حقونه ستاسو له وتو وروسته لاترينګلي شوي دي.

2. آيا د خپلي سلامتی له امله نه يئ توانيدلي چې له دننه کيدو وروسته د يو کال په موده کي غوښتنليک وړاندي نهکړی.

3. پخوا مو غوښتنليک استولی خو د نيمګړتيا له امله مسترد شوی او په مناسب وخت کي مو بشپړ غوښتنليک واستوئ.

فېرال مقررات يعني نوري پيښي مشخصوي چې ښايي ستاسو د غوښتنليک د ثبت ځنډ په اړه معتبر توضيحات وړاندي کوي دغه مقررات فدرال محکمي (CFR) د 8 ګوډ 208.4 و 1208.4 برخو کي موندلی شئ. په مقرراتو کي شامل لړليک کي ټول موارد شامل نهدي او دولت دا مني چې ډېر نور شرايط هم شته چې ښايي د 1 کال په موده کي د دوسيي ثبت لپاره د منلو وړ دلايل وي.

**[7 مخ]**

که نهشئ کولای متحده ايالتونو ته له دننه کيدو وروسته د يو کال په موده کي د پناهاخېستني غوښتنليک د ثبت د ځنډ دليل تشريح کړئ يا مو توضيحات د دولت لهخوا نهدي منل شوي، ښايي د پناهاخېستني شرايطو باندي برابر ونه اوسئ. خو کولای شئ د کډوالی او مليت قانون د (INA) د (3)(b)241 برخي مطابق له اخراج څخه د مخنيوی په شرايطو برابر وګڼل شئ يا د شکنجې ضد کنوانسيون پر بنست له اخراج څخه وژغورل شي.

**D برخه. ستاسو لاسليک**

بايد د خپل غوښتنليک په **D برخه** کي لاسليک وکړئ او د هر ډول مرستو په اړه پوښتني چې د خپل غوښتنليک بشپړولو لپاره مو ترلاسه کړئ، د غوښتل شويو معلوماتو پر بنسټ ځواب کړئ. له بشپړولو او پلټني وروسته خپل غوښتنليک لاسليک کړئ.

**که دا ثابت شي چې تاسو په پوهاوي سره د پناهاخېستني لپاره ناسم غوښتنليک وړاندي کړی، ښايي د تل لپاره د کډوالی او مليت قانون له آسانتياوو څخه بې برخي شي.** ( د کډوالی او مليت قانون (INA) د (3)(b)241 برخي ته مراجعه وکړئ)

د فدرال مقررې(CFR) د 8 کوډ 208.20 و 1208.20 برخو مطابق که د غوښتنلیک یو مورد مو په قصدي توګه ناسم وي، نو غوښتنلیک مو نیمګړی دی( که پوښتنه لرئ د د IV **څانګې په 1 برخه کې د وکیل لرلو** حق وګورئ.) دا چې یو کس درته وړاندیز کړی یا یې درته ویلې چې د پناه‌اخېستې په اړه ناسم معلومات وړاندې کړئ، نو تاسو نه‌شئ کولای په دې سره د خپل غوښتنلیک له نیمګړتیا څخه ډډه وکړئ.

**E برخه. که مو په خپله نه‌وي چمتو کړی د فورم د چمتوکوونکي لاسلیک**

هر کس د خپلې کورنۍ له نږدې غړیو پرته ( میرمن/ خاوند یا اولادونه) چې د غوښتنلیک په بشپړولو کې درسره مرسته کړي، باید غوښتنلیک په **E برخه** کې لاسلیک وکړي او د غوښتنلیک معلومات وړاندې کړي.

**د دروغو شهادت جریمه**

په دغه غوښتنلیک کې ټولې شته پوښتنې، ځوابونه او څرګندوني په بشپړ ډول سمي اعلانیږي خو که چېرې شهادت دروغ وي، مجازات کېږئ، تاسو او هر هغه کس چې د خپلې کورنۍ له نږدې غړي پرته د غوښتنلیک په چمتو کولو کې یې درسره مرسته کړې، باید:

غوښتنلیک د دروغو شهادت په مجازاتو سره لاسلیک کړئ. لاسلیک مو د غوښتنلیک له متحویاتو څخه ستاسو پوهاوی څرګندوي. هر کس چې د دغه فورم په چمتو کولو کې درسره مرسته کوي، پرته د خپلې کورنۍ له نږدې غړیو څخه باید، نوم، پته او ټیلفون شمېره ولیکي او د **E برخې** په مشخص ځای کې لاسلیک وکړي.

د چمتو کوونکي نه لاسلیک د دې لامل کېږي چې غوښتنلیک د نیمګړتیا له امله بېرته درمسترد شي.

که چېرې متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) او د کډوالۍ پلټنې لپاره اجرائیه دفتر (EOIR) وروسته پوه شي چې تاسو د خپلې کورنۍ له نږدې غړي پرته بل کس څخه مرسته ترلاسه کړې او هغه کس چې له تاسو سره یې د غوښتنلیک په لاسلیک کې په **عمدي** توګه بې پروایي کړې ښایي ستاسو پر وړاندې د منعي حکم صادریدو لامل شي.

18 سرلیک د متحده ایالتونو کوډ (U.S.C.)، (1546(a)، په قسمي ډول ورته اشاره کړې ده:

> هر څوک چې په پوهاوي سره دسوګندپاڼي پر بنسټ 1746 برخې له مخې په غوښتنلیک کې د یو ارزښتناک وضعیت څخه په پوهاوي ناسمي څرګندوني وکړي، د هغه سوګندپاڼه یا نور د اړتیا وړ اسناد چې د کډوالۍ قوانینو او مقرراتو په اړه دي، ثبت کړي یا په پوهاوي سره د هر ډول غوښتنلیک، سوګندپاڼي یا بل سند چې دغه ډول ناسمي څرګندوني لري، ثبت کړي د دغه سرلیک مطابق په 10 کاله حبس یا نغدي جریمه یا دواړو باندې محکمیدی شي.

که چېرې مشدد لاملونه موجود نه‌وي حداکثر 25 کاله حبس ته رسیږي.

که چېرې په دغه غوښتنلیک کې په پوهاوي سره ناسم معلومات وړاندې کړئ، د دغه غوښتنلیک له امله د امریکا متحده ایالتونو دU.S.C 18 کوډ پربنسټ کیفري مجازاتو کې شاملیدی شي ( د کډوالۍ او ملیت قانون (INA) د 274C برخې یا فدرال مقررې CFR 270 او 1270 مراجعه وکړئ).

**F برخه. د امکان په صورت کې د کډوالۍ مرکې بشپړول**

د دغه فورم له ډک کولو مخکې د خپلغوښتنلیک **F برخه** مه لاسلیکوئ. درنه غوښتل کېږي چې د مرکې په وروستۍ برخه او ستاسو د ادعا له مطرح کېدو وروسته خپل غوښتنلیک لاسلیک کړئ.

**پاملرنه**: په همدې حال کې د خپل غوښتنلیک **D برخه** لاسلیک کړئ.

**G برخه. د امکان په صورت کې د اخراج غونډې بشپړول**

د دغه فورم له ډکـکولو مخکې د خپل غوښتنلیک **G برخه** مه لاسلیکوئ. د کډوالۍ محکمې په غونډه کې درنه غوښتل کېږي چې دلته خپل غوښتنلیک لاسلیک کړئ.

**پاملرنه**: په همدې حال کې د خپل غوښتنلیک **D برخه** لاسلیک کړئ.

**بیاځلي درته یادونه کوو چې که چېرې مشخصه شي په پوهاوي سره مو د پناه‌اخېستنې سره ناسم غوښتنلیک وړاندې کړئ، د تل لپاره به د کډوالۍ او ملیت قانون(INA) له آسانتیاوو بې برخې شي. (د کډوالۍ او ملیت قانون(INA) (6)208(d)** برخې ته مراجعه وکړئ.)

د فدرال مقررې (CFR ) 8 کوډ 208.20 او 1208.20 برخو مطابق که چېرې مو د غوښتنلیک یو عنصر یا مورد په عمدي توګه خیالي یا ناسم وي، غوښتنلیک مو ناسم دی. بیاځلې ټینګار کوو چې نه‌شئ کولای له دې امله چې یو کس درته وړاندیز کړی یا یې د پناه‌اخېستې غوښتنلیک په اړه ناسم معلومات درکړي ، نه‌شئ کولای له امله یې د خپل غوښتنلیک له ناسم والي څخه ډډه وکړئ.

**[8مخ]**

VI. **د اړتیا وړ اسناد وړکاپیانې چې باید له غوښتنلیک سره واستوئ:**

د پناه‌اخېستې غوښتنلیک او له اخراج څخه د مخنیوي لپاره لاندې اسناد وړاندې کړئ:

1. **د I-589 اصلي فورم چې بشپړ او لاسلیک شوی وي او د خپل بشپړ شوي غوښتنلیک له یوې کاپي سره**، اصل او ضمیموي پاڼو او تکمیلي څرګندونو له یوې کاپي سره. که چېرې د اضافي مرستندویه مطالبو د لېږد تصمیم لرئ ،VIبرخه اضافي شواهد چې باید وړاندې یې کړئ په 1 برخه کې دغه لارښوونې وګورئ. باید د هر

سند دوه کاپیانې ضمیمه کړئ او د یو بشپړ شوي غوښتنلیک اضافي کاپي له خپلې مخینې سره چمتو او له ځان سره یې وساتئ.

2. **ستاسو د بشپړ شوي غوښتنلیک یوه اضافي کاپي I-589 فورم** له تکمیلي څرګندونو سره په لیست کې شاملو او د کورنۍ هر غړي لپاره چې **A.II** غوښتنلیک کې مو شامل کړي دي.

3. د خپلو اړیکې په اړه د لومړنیو یا ثانوي شواهدو او اسنادو دوه کاپیانې لکه د زیږون مخینه د اولادونو ښوونځي مو، نکاح خط، یا د طلاق سند چې په **A.II برخه** کې د خپل کورنۍ هر غړي لپاره په غوښتنلیک کې شامل کړئ.

**پاملرنه**: د سوګندپاڼې استولو په صورت کې باید یو اصل او یوه کاپي راولېږئ (دغه لارښووني د سوګندپاڼې د الزامیت لپاره **A.II** د **1 برخې په V** خانګه وګورئ)

4. خپل او د کورنۍ هر غړي **یو انځور چې د پاسپورت په بڼه وي او A.II برخه** کې لیست شوي، په خپل غوښتنلیک کې شامل کړئ. انځورونه باید د غوښتنلیک له ثبوت وروسته تر 30 ورځو پورې اخېستل شوي وي. له قلم څخه په استفادې د هر کس بشپړ نوم د هر انځور او (ای نمبر A-Number ) په شاتنۍ برخه کې ولیکئ (د شتون په صورت کې)

5. **د پاسپورت او د مسافرۍ نورو اسنادو د ټولو پاڼو** ( له پوښ څخه ترپایه) چې په واک کې یې لرې دوه ـ دوه کاپیانې او دوه کاپیانې د متحده ایالتونو د کډوالۍ سندونه لکهI-94 فورم د دننه کیدو او خروج سوابق البته د کورنۍ د هغو غړیو په شمول چې په لیست کې مو شامل دي. که داسې سندونه نه‌لرئ، غوښتنلیک وړاندې کړئ. د پاسپورت او مسافرۍ اسنادو اصلي مه راستوئ مګر دا چې په ځانګړې بڼه درنه وغوښتل شي.

6. **که د پېژندنې نور اسناد لرئ** ( د زیږون سند، نظامي پېژندکارت، د پولیسو پېژندکارت، د دریورۍ لیسانس او داسې نور) وړاندېز کوو چې له غوښتنلیک سره یوځای دوه ـ دوه کاپیانې واستوئ او اصل یې د مرکې پر مهال له ځان سره راوړئ.

**کاپیانې**: له دغه غوښتنلیک سره ثبت شوي اسناد باید فوټو کاپي شوي وي. که چېرې د یو اصلي سند استول غواړئ د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر (**USCIS**) یا د کډوالۍ محکمه ښایي یاد اصلي سند د سوابقو په توګه له ځان سره وساتي.

**ژباړې**: هر سند چې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر (**USCIS**) ته په بهرنۍ ژبه وړاندې شوی وي، باید په انګلیسي ژبه د هغه بشپړه ژباړه ولري چې ژباړن له بشپړتیا او کره والي تأیید کړی وي او همدارنګه له بهرنۍ ژبې انګلیسي ته د ژباړې لپاره له صلاحیت لروونکي ځانګي څخه د ژباړن تصدیق ولري.

### **VII**. هغه اضافي اسناد چې باید وړاندې یې کړئ

تاسو باید خپل شته د منلو وړ اسناد وړاندې کړئ چې **(1)** د هغه هېواد عمومي شرایط چې پناه‌اخېستنې غوښتنلیک مو ورته وړاندې کړی **(2)** هغه ځانګړي حقایق چې ادعا مو ورباندې تکیه لري.

که چېرې هغه شواهد چې ستاسو ادعا تأییدوي، په منطقي ډول د لاسرسي وړ نه‌وي یا اوس‌مهال هغه نه‌شئ وړاندې کولای، باید I-589 فورم B ضمیمه یا هم په اضافي پاڼو کې د هغو دلیل توضیح کړئ.

په ملاتړو شواهدو کې ښایي دغه موارد لکه د ورځپاڼو مقالې، د شهادت‌سوګندپاڼې یا د کارپوهانو سوګندپاڼې، روغتیایي مخینې، د ارواهپوهنې مخینې، د ډاکټرانو څرګندونې، نشرات، مجلې، کتابونه، انځورونه، یا شخصي څرګندونې یا د کارپوهانو له شهودو څخه ژوندۍ شاهدې، خو په دې پورې محدودېږي نه.

که چېرې د هغو ژبانونو له کبله چې مخکې در رسیدلي دي، ستونزه لرئ، کولای شي د روغتیایي متخصص یو ریپورټ وړاندې کړئ چې ستونزې توضیح کړي.

### **VIII**. فیسونه / لګښتونه

د غوښتنلیک ثبت هیڅ ډول فیس یا لګښت نه‌لري.

### **IX** د ګوتو نښو او انځور په شمول بایومتریک

پناه‌غوښتونکي مکلف دي چې بایمټریک ترسره کړي، څکه چې ټول مناسب سوابق او اړوند معلومات په ډېرې ډیټابیسونو کې چې د کورنۍ امنیت وزارت، عدلیې وزارت او د بهرنیو چارو وزارت کې ساتل کېږي، پلټل کېږي.

تاسو یا مو په شرایطو برابره میرمن/ خاوند یا اولادونه چې د پناه‌اخېستنې په غوښتنلیک کې شامل یاستئ، د سن له په پام کې نیولو پرته باید د څېړنې په پیل کې بایمټریکي ځانګړنې د لازمي مخینې یا د هویت تأیید په موخه وړاندې کړئ.

تاسو او میرمن / خاوند یا اولادونو ته مو د الزاماتو په اړه لارښوونه کېږي. د غوښتنلیک ملاتړ مرکز د موقعیت او وخت چې باید د ګوتو نښو یا انځور اخېستلو په موخه ورځئ، تاسو ته په لیکني بڼه خبر درکوي.

که چېرې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) په یوې تنظیم شوي کتنه کې ستاسو د غیر موجه نه حضور یا د بایمټریک ( د ګوتو نښې او انځور په شمول) یا په ټاکل شوي نېټه د نور بیوګرافیکي معلوماتو نه وړاندې کولو په صورت کې ښایي کاري جواز مو وځنډېږي او یا هم پناه‌اخېستنې افسر لەخوا اخراج شئ یا ستاسو غوښتنلیک کډوالۍ قاضي ته د راجع شي. د کډوالۍ قاضي پر وړاندې د موجه دلیل نشتوالی ښایي ستاسو دپناه‌اخېستنې غوښتنلیک د مستردېدو لامل شي یا د کار جواز مو مسترد شي ( د فدرال مقرري(CFR)( د 8 کوډ d)1003.47برخې ته مراجعه وکړئ)

**[ 9مخ ]**

کله چې خپل I-589 فورم ډک کوئ او ثبتوئ یې، باید هغه انځورونه چې **د VI برخې ته یې لازمه اسناد او یو شمېر د اړتیاوړ فوټوکاپیانو سره چې له غوښتنلیک سره مو یوځای واستوئ. په I برخه کې** دغه لارښوونې مشخصې شوي دي.

### **X**. ستاسو د غوښتنلیک تنظیم

خپل غوښتنلیک په لاندې بڼه ترتیب او تنظیم کړئ چې یوه بشپړه کڅوړه شي ( د امکان په صورت کې یې په قید یا پلاستي ترانګې سره وتړئ څو اسناد په اسانۍ سره جلا

ژباړه د غیر رسمي استفادې لپاره

شي):

1. ستاسو اصلي I-589 فورم له ټولو پوښتنو سره بشپړ او لاسلیک شوی غوښتنلیک مو چې په **D برخه** کې لاسلیک شوی، د هر چمتو کوونکي لهخوا په **E برخه** کې لاسلیک شوی؛ او
2. یوه قطعه انځور مو چې د پاسپورټ د انځور په اندازه وي، د فورم په **D برخه** ستېلر کړئ.

له اصلي I-589 فورم وروسته مو نور اسناد په لاندې ترتیب سره ضمیمه کړئ:

1. یو G-28، فورم، د وکیل یا معتبر استازي په توګه د دوسیې دخولي اعلامیه، چې ستاسو، وکیل یا استازي لهخوا مو لاسلیک شوي وي، په هغه صورت کې چې یو کس ستاسو د وکیل یا استازي په توګه معرفي شوی وي؛
2. د ټولو ضمیموي اسنادو او تکمیلي ځرګندلیکونو اصل له خپل غوښتنلیک سره؛
3. د هر ډول ملاتړو اضافي اسنادوه یوه کاپي؛
4. د شتون په صورت له خپلي میرمني/ میړه او تر 21 کلنی ټیټ عمره مجردو اولادونو سره ستاسو د اړیکو اړوند سندونو یوه کاپي چې په غوښتنلیک کې مو درج کړي؛ او
5. د ټول هغو پورته یادو شویو اسنادو یوه ـ یوه کاپي چې اصلي اسنادو په کڅوړه کې مو درج کړي، البته ستاسو له انځور پرته.

**که چېرې مو د کورنی غړي په غوښتنلیک کې شامل کړي، د هر غړي لپاره یوه اضافي کڅوړه ضمیمه کړئ** . د کورنی هر غړی کڅوړه مو په لاندې ډول ترتیب کړئ:

1. د I-589 بشپړ شوي فورم یوه کاپي چې لاسلیک شوي او تکمیلي پاڼو سره له اصلي غوښتنلیک سره راستول شوي دي. **A.II برخه** کې یو انځور چې د پاسپورټ انځور په بڼه وي، د کورنی هر هغه غړي سره چې غواړئ په غوښتنلیک کې یې درج د ښي لوري په پورتنی برخه کې ستېلر کړئ؛ او
2. د شتون په صورت کې د G-28 فورم یوه کاپي.

د بېلګې په ډول که مو میرمن/ میړه یا اولادونه شاملوئ، باید د اصلي اسنادو کڅوړه مو د اضافي اسنادو له یوې کاپی سره، د اسنادو هغې کڅوړې په شمول چې یوه مو میرمن/ میړه او بله مو اولادونو پوره اړوند ده چې په ټولیز ډول پنځه کڅوړې کېږي، راواستوئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې هر یو مناسب اسناد لري.

**یاملرنه**: خپل نوم په اضافي راستول شوي پاڼه کې ولیکئ ( په کره ډول داسې چې په **A.I** فورم کې راغلي دي) د (ای نمبر A-Number ) په شمول ( د شتون په صورت کې) لاسلیک او نېټه هم پهکې درج کړئ.

## XI. د پناهاخیستنې لپاره نیمګړي غوښتنلیکونه

د پناهاخیستنې هغه غوښتنلیک چې نیمګړی وي، له ترلاسه کولو وروسته د 30 ورځو په ترڅ کې د متحده ایالتونو د اتباعو ا و کډوالی خدماتو دفتر (USCIS) لهخوا د پست له لارې بېرته در استول کېږي. هغه غوښتنلیک چې د متحده ایالتونو د اتباعو ا و کډوالی خدماتو دفتر (USCIS) لهخوا له ترلاسه کولو وروسته در وانهستول شو، د بشپړو اسنادو کڅوړه ګڼل کېږي او تاسو به د متحده ایالتونو د اتباعو ا و کډوالی خدماتو دفتر (USCIS) لهخوا د اسنادو ترلاسه کولو لیکلي تأیید سند ترلاسه کړئ.

د بشپړ غوښتنلیک ثبت 150 ورځې وخت نیسي چې باید منتظر پاتې شي څو د کار جواز لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ. که مو غوښتنلیک بشپړ نهوي او بېرته در مسترد شي، دغه 150 ورځنی دوره تر هغه چې بشپړ غوښتنلیک مو نهوي استولی، نه پیلېږي ( د **کار جواز لپاره په شرایطو برابروالي په اړه لازیاتو معلوماتو برخه V برخه،** د غوښتنلیک د پلټنې لپاره د کار جواز، د دغې لارښوني لپاره **2**برخې ته مراجعه وکړئ)

غوښتنلیک د لاندې مواردو پر بنسټ نیمګړي ګڼل کېږي:

1. د غوښتنلیک په I-589 فورم کې مو ټولو پوښتنو ته ځواب نهوي وړاندې شوی؛
2. غوښتنلیک لاسلیک ونهلري؛
3. غوښتنلیک له لازمو انځورونو پرته استول شوی؛
4. غوښتنلیک مو د هر ډول ملاتړو مواردو لپاره د مناسبو کاپیانو پرته استول شوی ؛ یا
5. تاسو په **D برخه** کې اشاره کړې چې بل کس ستاسو په استازیتوب او یا مو د کورنی نېږدې غړي ستاسو غوښتنلیک چمتو کړی خو چمتو کوونکی نهدی توانیدلي د پناهاخیستنې غوښتنلیک **E برخه** بشپړه کړي.

## XII. چېرته یې ثبت کړم؟

که څه هم د متحده ایالتونو د اتباعو ا و کډوالی خدماتو دفتر (USCIS) په لیکلي بڼه ستاسو د غوښتنلیک ترلاسه کول تأییدوي، ښایي وغواړئ بشپړ شوي فورمې د خپلو سوابقو لپاره له هغې پوستي لارې واستوئ چې سپارښتنه یې شوې ده.

*که چېرې د کډوالی محکمه کې یاستئ، مګر دا چې له ملګرو پرته پردې ماشوم (UAC) په توګه غوښتنلیک وړاندې کوئ:*

که چېرې مو اسناد د کډوالی په محکمه کې تر پروسس لاندې وي، (I-221 فورم درته وړاندې شوی، د استماع اطلاعیې یا ښودلو لپاره لارښوونه؛ د کډوالی محکمې قاضي پر وړاندې د استماع لپاره د یو نیول شوي کس د منلو غوښتونکي ته اطلاعیه؛ I-862، فورم د حاضریدو لپاره اطلاعیه؛ یاI-863 ، فورم د کډوالی قاضي ته ارجاع اعلان)،

تاسو خپل I-589 کډوالۍ محکمې ته واستوئ چې ستاسو دوسيې ته د رسيدنې صلاحيت لري.

د تقويم په اصلي ناسته کې د کورنۍ امنيت وزارت (DHS)سلاکار د بايومتريک او بيوګرافي معلوماتو وړاندې کولو لپاره د متحده ايالتونو د اتباعو ا و کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) ته يو لړ لارښوونې کوي چې بايد هغوی يې تعقيب کړي. دغه لارښوونې په [www.uscis.gov/laws/immigration- benefits-eoir-removal-proceedings](http://www.uscis.gov/laws/immigration-benefits-eoir-removal-proceedings) ويب سايټ کې ترلاسه کولای شئ. لاندې پراګرافونه يو لړ لارښوونې توضيح کوي چې بايد ورنه پيروي وشي:

**[ 10مخ ]**

د کډوالۍ په محکمه کې د I-589 فورم سپارلو سربېره د متحده ايالتونو د کډوالۍ او ګمرکونو ادارې سترسلاکار دفتر(ICE) ته د هغو د کاپي سربېره بايد لاندې شرايط هم بشپړ کړئ، څو د کډوالۍ قاضي وکولای شي د اقامت اجازه درکړي يا ملاتړ درنه وکړي.

**لاندې درې موارد په نبراسکا کې د متحده ايالتونو د اتباعو ا و کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) د خدماتو مرکز ته واستوئ:**

**1.** د I-589 بشپړ فورم له درېيو لومړيو پاڼو څخه يوه روښانه کاپي چې بايد د کډوالۍ محکمې کې ډکې او ثبت شوې وي، بشپړ نوم، د اوسيدو ځای اوسنۍ پته، اوسنۍ پوسته ولري. د (ای نمبر A-Number) بشپړ شوي فورم له لومړيو درېيو پاڼو څخه پرته هيڅ بل سند مه استوئ؛

**2.** که چېرې د استازي په نوم کوم کس لرئ،دG-28 ، فورم يوه کاپي، د وکيل يا معتبر استازي د دننه کېدو اعلاميه؛ او

**3.** د کورني امنيت وزارت (DHS) سلاکار دفتر لهخوا وړاندې شويو لارښونو يوه کاپي چې د کډوالۍ اخراج بهيرد اصلي تقويم په لومړۍ استماعيه غونډه کې مو ترلاسه کړې دی.

په نبراسکا کې د متحده ايالتونو د اتباعو ا و کډوالۍ خدماتو دفتر (**USCIS Nebraska Service Cente**)

د کډوالۍ محکمې څخه د پناهاخيستنې دفاعيه غوښتنليک ( **Defensive Asylum Application with Immigration Court** )

پست بکس: **P.O. Box 87589**

**Lincoln, NE 68501-7589 :**

**پاملرنه:** د **I-589** فورم غوښتنليک هيڅ ډول لګښت او فيس نهلري.

**په نبراسکا کې د** د متحده ايالتونو د اتباعو ا و کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) لهخوا د درې مواردو له ترلاسه کولو وروسته **به لاندې موارد ترلاسه کړئ:**

**1.** د متحده ايالتونو د اتباعوا و کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) لهخوا د رسيد يوه اعلاميه چې ښيي د متحده ايالتونو د اتباعو ا و کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) ستاسوI-589 فورم ترلاسه کړی دی؛ ا و

**2.** پهI-589 فورم کې تاسو او ستاسو اړوندو کسانو په شمول چې ميرمن/ خاوند او په شرايطو برابر اولادونو ته مو غوښتنليک د ملاتړي مرکز (ASC)اطلاعيه چې د اخراج په پړاو کې هم ياستئ. که چېرې غوښتنليک ملاتړي مرکز (ASC) اعلاميه په فرد پورې اړوند رسيد شمېره لرئ او هر کس لپاره لارښوونې وړاندې کوي څو د غوښتنليک ملاتړي مرکز (ASC) ته د مرکې پر مهال د بايمټريک معلوماتو راټولولو ( انځور، د ګوتو نښه او لاسليک) ته حاضر شي. که چېرې د غوښتنليک ملاتړي مرکز (ASC)اعلاميه مو د درېيو اوونيو په ترڅ کې ترلاسه نهکړه، له(**1-800-375-5283** (TTY: **1-800-767-1833** شمېرو سره په اړيکه کې شئ.

**پاملرنه**: که چېرې مو غوښتنليک د نورو پړاوونو بشپړولو د بريښناليک له لارې استوئ خو د اخراج په وضعيت کې ياستئ، د کورني امنيت وزارت(**DHS**) د وکيل لهخوا وړاندې شويو لارښوونو مطابق د تقويم په لومړنۍ غونډه کې له توپير لرونکيو رسيدونو سره به دوه اطلاعيې ترلاسه کړئ. بايد منتظر پاتې شي چې د مهالوېش دواړه اطلاعيې د مرکې پر مهال غوښتنليک ملاتړي مرکز (**ASC**) ته له ځانه سره يوسئ.

تاسو ( ميرمن/ خاوند او په شرايطو برابر اولادونه د سن پام کې نيولو پرته) بايد:

**1.** په غوښتنليک ملاتړي مرکز (**ASC**) کې د بايمټريک مرکې پر مهال **حاضر** شئ او د غوښتنليک ملاتړي مرکز (ASC)مخکې د **بايمټريک يو تأييدي** سند ترلاسه کړئ؛ او

**2.** **د . غوښتنليک ملاتړي مرکز (ASC) له بايمټريک تأييدي** د داسې يو سند په توګه چې ګواکې بايتمتريک شوي ياست له ځانه سره **وساتئ** او د کډوالۍ محکمې راتلوونکې غونډې ته يې درسره راوړئ.

**پاملرنه**: که پورتنۍ لارښوونې د پناهاخېستنې غوښتنليک د لومړيو درېيو پاڼو کاپي مو په نبراسکا کې د متحده ايالتونو د اتباعو ا و کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) د اطلاعيې ترلاسه کولو په موخه ترلاسه کړې، مهالوېش بدل کړئ. بدلې شوې لارښوونې د تقويم غونډې له مهالوېش سره بل ځای ته چې د کډوالۍ محکمې د رسيدنې په موخه به در واستول شي، . ترلاسه شوې لارښوونې تعقيب کړئ. له هغه پرته ښايي د غوښتنليک ملاتړي مرکز (ASC)بايمټريک مهالوېش اعلاميه په خپل وخت سره ترلاسه نهکړئ.

**1.** د محروميت له ټولو پړاوونو وروسته، د اخراج او يا د فدرال مقررې (CFR) د 8 کوډ د 1003 برخې پر بنسټ د غوښتنليک بياپلټنې په اړه د کډوالۍ محکمې صلاحيت په لرلو سره د تېرې رسيدنې په موخه هر ډول غوښتنليک بايد په منطقي دول د پناهاخېستنې غوښتنليک نه وړاندې کولو تر پايته رسيدو پورې په اسنادو سره توضيح کړئ؛ يا

**2.** دفدرال مقررې (CFR) د 8 کوډ (c)208.2 او (c)1208.2 برخو او I-863 فورم وروسته د کډوالۍ قاضي به د ارجاع اطلاعيه درته ابلاغ او د کډوالۍ په محکمه کې به ثبت شي. د کډوالۍ قاضي به ستاسو د اسنادو په اړه انحصاري صلاحيت ولري.

يوازې د غير رسمي استفادې لپاره

***له ملګري پرته د پردي ماشوم (UAC) لپاره د دوسيي چمتوکولو او ثبت لپاره ځانګړي لارښووني***

که ماشوم یاستئ او بی سرپرسته پردی ماشوم ***(UAC)*** په توګه د اخراج، دوسيي چمتوکولو او ثبت په وضعیت کې پېژندل شوي یاست او ستاسو غوښتنلیک بشپړه شوې کځوره باید په دي پته واستوئ:

په نبراسکا کې د متحده ایالتونو د اتباعو ا و کډوالی خدماتو دفتر **(USCIS Nebraska Service Cente)**

بی سرپرسته پردی ماشوم **(UAC I-589)**
پست بکس: **P.O. Box 87589**

**Lincoln, NE 68501-7589 :**

که چېرې د کډوالی محکمې قضاییه غونډه کې د ګډون پر مهال د کورني امنیت وزارت DHS)وکیل د لارښوونو حکم مو ترلاسه کړی وي،او د روغتیا، انساني خدماتو وزارت او د پناه اخېستونکیو د سرپناه دفتر(ORR) لهخوا وړاندې شوې سند کاپي لرئ چې ښيي تاسو بی سرپرسته پردی ماشوم (UAC) په توګه او د پناهاخېستونکیو د سرپناه دفتر په قید کې یاستئ، لکه بی سرپرسته پردی ماشوم (UAC) د لومړنی ارجاع فورم(ORR) یا د پناه اخېستونکیو د سرپناه دفتر ، په مهربانی سره خپل اسناد د غوښتنلیک له کځوړې سره یوځای واستوئ.

**که چېرې بی سرپرسته پردی ماشوم (UAC) یاستئ خو د اخراج په مرحله کې نه یاستئ،** په مهربانی سره د I-589 فورم غوښتني کځوره د لاندې طرحه شويو لارښوونو مطابق « که د کډوالی محکمه یا د کډوالی استیناف پلاوی په پړاو کې نه یاستئ) واستوئ.

***د استيناف پلاوي لهخوا د پلټني په حال کې:***

کولای شي I-589 فورم مو د فدرال محکمې (CFR) 8 کوډ 1003.2 او 1003.8 مطابق غوښتنلیک تر کتنې او پلټنې لاندې نیول شوي ، د کډوالی استیناف پلاوي ته واستوئ. د I-589 لومړنی فورم یوازې هغه مهال چې د کډوالی استیناف پلاوي ته واستوئ چې یاد پلاوی ستاسو دوسیې ته د رسیدنې صلاحیت ولري. ځکه چې غوښتنلیک باید په منطقي ډول پناهاخېستني غوښتنلیک ته د رسیدنې او یا له پړاونو بشپړولو مخکې د اخراج مخنیوي په موخه توضیح کړي.

**[ 11مخ ]**
***که د کډوالی په محکمه یا د کډوالی استنیاف پلاوي په مقابل نه یاستئ:***

د I-589 بشپړ شوی فورم یا هر ډول نور اضافي معلومات ځرنګه چې لاندې نښه شوي، د بریښنالیک لهلارې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) واستوئ او یا د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) له ویب سایټ څخه لیدنه وکړئ: [www.uscis.gov/i-589](http://www.uscis.gov/i-589).

| **غوښتنلیک مو په لاندې پته واستوئ:** | **که چېرې په لاندې ایالتونو کې اوسېږئ.** |
|---|---|
| د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(**USCIS**) د تکزاس د خدماتو دفتر<br>(**Texas Service Center** )<br>پاملرنه : Attn: Asylum<br>پست بکس P.O. Box 851892<br>Mesquite, TX 75185-1892 | آلاباما، آرکانزاس، کلرادو، کلمبیا ناحیه ، فلوریدا، جورجیا، لوئیزیانا، مریلند، میسیسیپی، نیومکزیکو، شمالي کارولینا ، اوکلاهما، غربي پنسیلوانیا * (د پیتسبورګ ساحوي دفتر قضایي حوزه)، پورتوریکو، جنوبي کارولینا ، تنسی، تګزاس، د متحده ایالتونو ویرجین جزیرې ، یوتا، ویرجینیا، لویدیزه ویرجینیا، یا وایومینګ |
| **غوښتنلیک مو په لاندې پته واستوئ:** | **که چېرې په لاندې ایالتونو کې اوسېږئ.** |
| د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(**USCIS**) د تکزاس د خدماتو دفتر<br>(**Nebraska Service Center**)<br>پست بکس: P.O. Box 87589<br>Lincoln, NE 68501-7589 : | آلاسکا، شمالی کالیفرنیا *، آیداهو ، ایلینوی، ایندیانا، آیووا، کانزاس، کنتاکی، میشیګان، مینهسوتا، میسوری، مونتانا نبراسکا، شمالي نوادا * (ساحوی رینو ساحوي قضایي دفتر حوزه)، شمالي داکوتا ، اوهایو، اورګان، جنوبي داکوتا ، واشنګتن یا ویسکانسین |
| د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(**USCIS**) د کلیفورنیا د خدماتو دفتر<br>(**California Service Center** )<br>پست بکس P.O. Box 10881<br>Laguna Niguel, CA 92607-0881 | آریزونا، سویلي کالیفرنیای*، ګوام، هاوایی، یا جنوبی نوادای * (لاس وګاس ساحوي دفتر قضایي حوزه)، |

| | |
|---|---|
| د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) د ورمیټ د خدماتو دفتر (**Vermont Service Center**)<br>پاملرنه : Attn: Asylum<br>Lower Welden Street St. Albans, VT 05479-0589 | کانکتیکات، دلاور، مین، ماساچوستس، نیوهمپشایر، نیوجرسی، نیویورک، شرقی پنسیلوانیا * (دفیلادلفیا قضایي حوزې دفتر)، رود آیلند، یا ورمونت |

* **پاملرنه:** هغه غوښتونکي چې په کلیفورنیا، نواداو او پنسیلوانیا کې اوسیږي، که ډاډه نه‌وي چې غوښتنلیک یې چېرته واستوئ، د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) او یا پناه‌اخېستنې ځايي دفتر سره اړیکه ونیسئ

**د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) د تکزاس د خدماتو دفتر د اړیکو شمېره: 1-800-375-5283**

*TTY: for the Hearing Impaired:* **1-800-767-1833**

**د کالیفرنیا او نوادا اوسیدونکي**

د لاس انجلس د پناه‌اخېستنې دفتر *Los Angeles Asylum Office:* **714-808-8000**

*San Francisco Asylum Office:* **415-293-1234**

**د پنسیلوانیا اوسیدونکي**

دارلینګتون د پناه‌اخېستونکیو دفتر *Arlington Asylum Office:* **703-235-4100**

د نیوپارک د پناه‌اخېستونکیو دفتر *Newark Asylum Office:* **201-531-**

د پناه‌اخېستنې دفترونو او د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک د ثبت ځای په اړه اړوند معلومات د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) له [www.uscis.gov](http://www.uscis.gov) ویب سایت څخه ترلاسه کولای شئ

که مو مخکې د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک ورکړی وي خو د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) له‌خوا مسترد شوی وي، یا مو مخکې د میرمنې/ خاوند او اولادونو غوښتنلیک د ځنډ په حالت کې ځای کړی وي خو په شرایطو برابروالي په فرد پوري تړاو نه‌لري او خپل I-589 بشپړ شوی فورم مو د پناه اخېستنې هغې اداري ته چې د اوسیدو ځای کې مو د تصمیم نیونې صلاحیت لري، پست کړئ ( د پناه‌اخېستنې اداري صلاحیت په اړه لازیاتو معلوماتو لپاره [www.uscis.gov/asylum](http://www.uscis.gov/asylum) ویب سایټ ته مراجعه وکړئ) له غوښتنلیک سره مو یو لیک ضمیمه کړئ او له دې څخه یادونه وکړئ چې پخوا مو د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کړی خو مسترد شوی وو او اوس ه خپلواکه توګه د پناه‌اخېستنې غوښتنه کوئ.

کولای شې د I-589 بشپړ شوی فورم په مستقیم ډول د پناه‌اخېستنې هغې اداري ته وړاندې کړئ چې ستاسو دوسیې ته د رسیدنې صلاحیت لري، چې:

1. تاسو د کار لپاره د پناه‌اخېستنې د مدیر یا د پناه‌اخېستې ځانګې مدیر څرګند رضایت ترلاسه کړی؛ یا
2. مخکې مو په غوښتنلیک کې د ځنډ په حالت کې میرمن/ خاوند او اولادونو غوره کړی وو خو اوس د تړاو لروونکې غوښتونکي په توګه شرایطو سره برابر نه یاستئ، په دغسې مواردو کې باید داسې یو لیک له ځان سره ولرئ چې پخواني وضعیت ته په‌کې اشاره شوې وي او دا توضیح کړي چې په خپلواک ډول د پناه‌اخېستو غوښتنلیک وړاندې کوئ.

لاندې کسان د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) د پناه‌اخېستنې دفتر سره د مرکې حق نه‌لري:

1. ځینې بیګانه اجیران؛
2. ځینې سورلۍ
3. د منلو ویزو معافیت پروګرام غوښتوونکي؛
4. د لازیات اقامت لغو کیدو پروګرام او له وضعیت څخه سرغړوونکي؛
5. ځینې بیګاه کسان چې د د کډوالۍ او ملیت قانون (INA) د 235(c) برخې مطابق او د امنیتي دلایلو له امله ورته د اخراج حکم شوی دی؛ او
6. هغه پردی کس چې دد کډوالۍ او ملیت قانون (INA) د 101(a)(15)(S) برخې مطابق د غیر کډوال وضعیت ورته ورکړل شوی دی ( شاهدان، مخبران)

په دغه ځانګړې کټګورۍ کې شامل کسان چې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) دفتر ته یې د پناه‌اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کوي، کله چې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) د همغږۍ دفتر ته حاضرېږي، د کډوالۍ غوښتونکیو د اجاع اطلاعې I-863 فورم ترلاسه کوي اویوازې دکډوالۍ محکمې د پناه اخېستنې استماعیه غونډه ته راجع کېږي.

که چېرې له پورته کټګوریوڅخه په یو کې شاملېږي او لا هم د I-863 فورم نه‌دی درته وړاندې شوي کولای I-589 بشپړ شوی فورم مو د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) ته واستوئ چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه د تصمیم نیونې صلاحیت لري. ښایي د پناه‌اخېستنې دفتر مدیر دا غوره کړي چې له I-863 فورم سره ستاسو خدمت وکړي، په دغه حالت کې د پناه‌اخېستنې دفتر مدیر تاسو د کډوالۍ اړوندې محکمې ته معرفي کوي.

یوازې د غیر رسمي استفادې لپاره

که چېرې د حبس په حال کې پردې خدمه یاستئ او I-589فورم او همدارنگه د وکیل لهخوا د وکالت امتیاز او د پناهاخېستنې ناسم غوښتنلیک سپارلو له عواقبو څخه معلومات درکړل شوي 10 ورځې فرصت لرئ چې I-589بشپړ شوی فورم مو د متحده ایالتونو د کډوالی او گمرک ساحوي چارو اداري مدیر(ICE) ته چې په وردوي بندر کې ستاسو د بیرې وضعیت ته د رسیدنې صلاحیت لري، واستوئ. ښایي د ساحوي دفتر د ۱۰ ورځو فرصت د ښو دلایلو له امله تمدید کړي او کله مو چې خپل غوښتنلیک ثبت کړ، د ساحوي دفتر مدیرI-589 فورم درکوي او له څنډ پرته مو غوښتنلیک د کډوالی اړوندې محکمې ته راجع کوي.

**2 برخه. د دوسیې له چمتو کولو او ثبت وروسته الزاماتو اړوند معلومات**

**I. ستاسو د پتې بدلون پرمهال د الزامیت اعلان**

که چېرې مو پته بدله کړه باید له لېږد وروسته د 10 ورځو په ترڅ د خپلې نوې پتې په اړه د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) ته په لیکلي بڼه خبر ورکړئ.

**که چېرې مو غوښتنلیک د پناه اخېستې اداري تر پلټنې لاندې وي، باید د پتې له بدلون وروسته د ۱۰ ورځو په ترڅ کې د AR-11فورم پر بنسټ د پناهاخېستنې اداري د پردې آدرس د بدلون کارت خبر ورکړئ او یا د لاسلیک شوې لیک له لارې چې له خپلې پتې بدلون نېټه هم پهکې یاده شوې د د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) خبر ورکړئ.**

هغه پته چې په غوښتنلیک کې مو وړاندې شوې، د پتې بدلون وروستې نېټې پورې چې استولې مو دی، د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) لهخوا د پست استولو لپاره کارول کېږي. هره اطلاعیه چې هغې پتې ته پست کېږي، کافي خدمات به ورسره وي، پرته له دې چې ښایي د لاندې مواردو لپاره شخصي خدماتو ته اړتیا وي: د I-122فورم، د کډوالی قاضي لهخوا د استماعي غونډې لپاره حبس شوی بیگانه اطلاعیه؛ I-221، فورم د لامل ښودلو لپاره لارښوونه؛ I-862 فورم؛ د حاضریدو لپاره اطلاعیه؛ I-863 فورم د کډوالی قاضي ته د ارجاع اطلاعیه؛ او I-860، فورم، د چټک اخراج حکم او اطلاعیه.

**که چېرې مو اسناد د کډوالی محکمه کې دپلټنې په حال کې وي، باید** 33/IC **فورم د کډوالی پلټنې اجرائیه دفتر (EOIR) د پردیو پتې بدلون فورم/ د کډوالی محکمه، د هر ډول پتې بدلون وروسته د پنځو ورځو په ترڅ کې د کډوالی محکمې ته خبر ورکوي.** تاسو باید دغه اعلان د کډوالی هغې محکمې ته واستوئ چې ستاسو دوسیې د رسیدنې صلاحیت لري.همدارنگه باید د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) ته چې د پردی پتې بدلون کارت، یا لاسلیک شوی لیک چې نېټه ولري، د پتې بدلون وروسته د 10 ورځو په ترڅ کې خبر ورکړئ.

**II. د پناهاخېستنې مرکې بهیر**

که مو دوسیه د کډوالی محکمه تر پروسس لاندې نهوي د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) د پناهاخېستنې دفترتاسو ته د تنظیم شوې مرکې د وخت، نېټې او ځای په اړه خبر ورکوي.

د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) سپارښتنه کوي چې د پناهاخېستنې مرکې پر مهال دI-589 فورم یوه کاپي له ځان سره ولرئ. د پناهاخېستنې یو افسر د لوړې په تطبیق سره مرکه درسره کوي او ستاسو د ادعا په اړه تصمیم نیسي. په ډېرې مواردو کې د مرکې تر نېټې پورې د دوسیې په اړه تصمیم په اړه خبر نهدرکول کېږي.

تاسو حق لرئ چې د متحده ایالتونو دولت ته له لگښت او ورکړې پرته په مرکه کې له وکیل او قانوني استازي څخه برخمن واوسئ (**IV برخه، د وکیل درلودلو حق** برخه وگورئ)همدارنگه کولې شئ هغه شاهدان له ځانه سره مرکې ته راولئ چې ستاسو لهخوا شهادت ورکوي.

**که نهشئ کولای پر انگلسي ژبې واکمنی سره د پناه اخېستنې مرکه ترسره کړئ، باید د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر(USCIS) لهخوا له لگښت پرته داسې یو ژباړن درته وټاکل شي چې په انگلیسي او ستاسو په ژبه مسلط واوسي.**

ژباړن مو باید کم له کمه 18 کاله عمر ولري، دغه کسان نهشي کولای ستاسو د ژباړن په توگه خدمت وکړي: وکیل یا مو پخوانی استازی، یا هغه شاهد ستاسو لهخوا په مرکه کې شاهدي ورکوي یا ستاسو استازی یا مو د هېواد کارکوونکی دی. د ژباړې کیفیت ستاسو د ادعا لپاره ډېر مهم دی. تاسو دغه ډول مرستي باید په خپل شخصي لگښت له مرکې مخکې ترلاسه کړئ.

**له موجه دلیل پرته د مرکې لپاره د وړ ژباړن نشتوالی ښایي په مرکه کې ستاسو د حضور یا نهحضور په توگه وگڼل شي. د مرکې لپاره د هر ډول ناموجه دلیل پرته نه حاضریدل ښایي ستاسو د کار جواز د خنډ لامل شي او یا مو د پناهاخېستنې غوښتنلیک مسترد یا په مستقیم ډول محکمې ته راجع شي.**

هغه کسان چې د اوریدو او کم اوریدو معلولیت لري او د اشارې په ژبه ژباړن ته اړتیا لري، یو ژبان به درته نیول کېږي. د پناهاخېستنې مرکې لپاره اطلاعیې په ترلاسه کولو سره، د پناهاخېستنې هغې اداري ته چې ستاسو دوسیې ته د رسیدنې صلاحیت لري، اړېکه ونیسئ او دفتر ته اطلاع ورکړئ چې د اشارې او په خپله ژبه ژباړن ته اړتیا لرئ څو دغه آسانتیا له مخکې څخه درته برابره شي.

د شتون په صورت کې باید د پېژندنې لپاره ځینې اسناد لکه پاسپورت، د سفر او پېژندنې نور اسناد، یا I-94 فورم ، د دننه کېدو او وتلو سوابق له ځانه سره ولرئ. باید وکولای شئ هر هغه مورد چې ستاسو ادعا مستندوي او له مخکې مو له خپل غوښتنلیک سره نهوي استوئ، په مرکه کې یې له ځانه سره راوړئ. ټول اسناد باید په درېیو کاپیو کې له ځانه سره ولرئ.

گه مو د کورنۍ غړي مېناهاخېستې غوښتنلیک کې ځای شوي، هغوی هم باید مرکې ته حاضر کړئ او هر ډول هویتي یا سفري اسنادونه چې لري، باید له ځانه سره ولري.

**III. هغه وضعیت چې د غوښتنلیک انتظار په حال کې وي**

په داسې حال کې چې دوسیه مو د پلټنې په حال کې وي، اجازه درکول کېږي څو په متحده ایالتونو کې پاتې شې. د پناهاخېستنې له مرکې وروسته که پناه درنهکړل شي او

ښايي د کډوالۍ او ملیت قانون 237 (INA) ، 8 U.S.C. 1227 برخي یا د کډوالۍ او ملیت قانون 237 (INA) 212 برخي (8 U.S.C. 1182، ) مطابق د پناهاخېستنې اداره ستاسو غوښتنلیک د مناسب تور سره یوځای د کډوالۍ محکې ته اخراج ته د رسیدنې قضاوت لپاره راجع کړي.

**[13 مخ]**

### IV. له متحده ایالتونو بهر سفر کول

له I-131فورم څخه په استفادې د سفر سند غوښتنلیک د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) څخه د مشروط اقامت ترلاسه کولو پرته یا له مشروط اقامت مخکې متحده ایالتونه پرېږدئ، نو موږ داسې ګڼو چې ګواکې له غوښتنلیک څخه مو انصراف کړی که له مخکې مو مشروط اقامت ترلاسه کړی او هغه هېواد ته چې له ځوړ زیاتې یا شکنجې سره پهکې مه مخ ویئ، بېرته ستنېږئ، موږ داسې ګڼو چې له پناه اخېستنې غوښتنلیک څخه انصراف کړی، مګر دا چې وکولای شئ د بېرته راستنیدو لپاره قانع کوونکي دلایل وړاندې کړئ.

**یادونه**: د مشروط اقامت لپاره د غوښتنلیک وړاندې کولو مخکې ستاسو په شخصي شرایطو پورې اړوند او همدارنګه توپیر لرونکې دی. د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) د معلومات له ګذر InfoPass برخې څخه استفاده وکړئ څو د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) ځایي، سیمه‌ییز او دفتر ته د غوښتنلیک وړاندې کولو باره کې لارښوونې مطالعه کړئ. د مشروط اقامت په اړه تکمیلي معلومات په.**www.uscis.gov** پته د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) له ویب سایټ څخه ترلاسه کولای شئ

### V. د غوښتنلیک پلټنې په حال کې د کار جواز

که مو د پناهاخېستنې غوښتنلیک ومنل شي، د کار اجازه درکول کېږي.

یوازې د پناهاخېستنې غوښتنلیک وړاندې کول تاسو ته د کار جواز حق نه‌درکوي، که مو د پناهاخېستنې غوښتنلیک د پلټنې په حال کې وو او د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) یا کډوالۍ محکمې له‌خوا له منل کیدو 150 ورځې تېرې شوي وي، کولای شئ د کار جواز لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ (په کود 8 مقرره فدرال مقررې (CFR)د 8 کوډ (1)(a)208.7 او (1)(a)1208.7 برخې وګورئ) د پناه اخېستنې غوښتنلیک رسیدنې بهیر کې هر ډول ځنډ به له هغې نېټې څخه چې غوښتنلیک ثبتوئ، د 150 ورځو دورې په توګه محاسبه نه‌شي.

که چېرې ستاسو د پناهاخېستنې غوښتنلیک له سپارل کیدو وروسته د 180 ورځو په ترڅ کې نه‌وي مسترد شوی، ستاسو د پناهاخېستنې غوښتنلیک نه مستردېږي، ښايي د I-765، فورم په ډک کولو سره د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) دفتر له‌خوا درته د کار جواز درکړل شي. په دې اړه اړوندې لارښوونې تعقیب کړئ او هغو اسنادو او شواهدو له یوې کاپي سره چې د لارښوونې برخه کې مشخصه شوې، وړاندې کړئ څو وښیي چې ستاسو د پناهاخېستنې غوښتنلیک د انتظار په حالت کې دی.

د کورنۍ هر غړی مو باید په غوښتنلیک کې شامل وي او همدارنګه که غواړي د کار جواز ترلاسه کړي، په جلا جلا توګه I-765 فورمې راوستوي.

د I-765 فورم کاپي د تیلفون له لارې د **1-800-375-5283** شمېرو له لارې د د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) د خدماتو مرکز واستوئ او یا بېد متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) دفتر **www.uscis.gov** ویب سایټ څخه ترلاسه کړئ.

### د کورنې امنیت وزارت (DHS) د خصوصي حریم ساتو اعلامیه

**چارواکي**: په دغه غوښتنلیک کې غوښتل شوي معلومات او اړوند شواهد د کډوالۍ او ملیت قانون(INA) 208 او (3)(b)241 برخو څخه راټول شوي دي.

**هدف**: په دغه فورم کې د غوښتل شویو معلوماتو اصلي هدف په متحده ایالتونو کې د پناهاخېستنې لپاره په شرایطو برابروالي او له اخراج څخه مخنیوی دی. دغه معلومات ښايي د شکنجې ضد کنوانسیون پر بنست د غوښتنلیک د ځنډ لپاره هم د استفادې وړګرځیدلی شي.

**افشاء یا ښکاره کول**: هغه معلومات چې وړاندې کوئ یې ستاسو په خوښه او رضایت سره دي، په همدې حال کې د هر ډول غوښتل شویو شواهدو و معلوماتو نه وړاندې کول ښايي وروستې تصمیم له ځنډ سره مخ کړي یا مو د غوښتنلیک د مستردیدو لامل شي.

**ورځنۍ استفاده**: **د کورنې امنیت وزارت (DHS)** ښايي هغه معلومات چې د آسانتیا غوښتلو لپاره مو وړاندې کړی، له نور دولتي فدرالي، ایالتي، ځایي او بهرنیو سازمانونو او نور مجازو سازمانونو سره شریک کړي. **د کورنې امنیت وزارت (DHS)** له ورځنې استفادې سره چې تأییدي یې تشریح شوې او په سیستم کې خپاره شوي او په پخوانیو اطلاعایو پورې اړوند دي، پیروي کوي [**د کورنې امنیت وزارت (DHS)** د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) -**001** – پردې دوسیه،لړلیک، او د ملي تعقیب دوسیې **د کورنې امنیت وزارت (DHS) 010** – د پناهاخېستنې معلومات او پخوانۍ پلټنه] چې د کډوالۍ پلټنې دفتر اجرائیه دفتر EOIR-001 په ویب سایټ **www.dhs.gov/privacy** د سوابقو مدیریت سیستم، 69 ثبت، فدرال **Reg 26, 179** (2004، 11 مې میاشت) یا یې ځیناستې ومومې. **د کورنې امنیت وزارت (DHS)** همدارنګه ښايي د اړتیا په صورت کې د قانون اجرائیوي موخو یا یې د ملي امنیت د ګټو لپاره خپاره کړي.

### د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر (USCIS) فورمې او معلومات

کولای شئ د د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) فورمې او په کډوالۍ پورې اړوند معلومات د **www.uscis.gov** په پته د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) ویب سایټ کې ترلاسه کړئ. که انترنیټ ته لاسرسی نه‌لرئ، کولای شي د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) د اړیکو مرکز د تیلفون **1-800-375-5283** له لارې یې وغواړئ( TTY د کڼو او نیمه کڼو لپاره **1-800-767-1833** شمېره اړیکې ونیسئ)

د پناهاخېستنې او له اخراج څخه د مخنیوي په اړه لازیاتو معلوماتو لپاره د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر(USCIS) **www.uscis.gov/asylum** ویب سایټ او د کډوالۍ پلټنې اجرائیوي دفتر(EOIR) **www.usdoj.gov/eoir** ویب سایټ وګورئ.

یوازې د غیر رسمي استفادې لپاره

**جریمې**

که په پوهاوي یا عمدي توګه حقایق پټ او جعل ییکړئ یا له I-589 فورم سره یو جعلي سند وړاندې کړئ موږ ستاسو. I-589فورم مستردو او ښایي د کډوالۍ له هر ډول نورو آسانتیاوو څخه بې برخې شئ.

له دې سربېره، به له شدیدو مجازاتو سره مخ شي چې په قانون کې یې وړاندوینه شوي او ښایي تر تعقیب او مجازاتو سره مخ شئ.

د ځانګړیو معلوماتو له د **E برخه، 1برخه** او V برخي لارښووني وګورئ.

**د پراونو بشپړولو قدمو راکمولو قانون (دفتري کار)**

یو بنسټ نه‌شي کولای معلومات راټول او یا یې مالي ملاتړ وکړي، شخص د معلوماتو پر راټولولو مکلف او ځواب‌ویوونکی نه‌دی، مګر دا چې د OMB کنټرول اوسنی معتبره شمېره وړاندې کړي. د لارښوونو پلټنې، بشپړولو او اټکل په شمول دغو معلوماتو لپاره د عمومي ریپورټ ورکووني فشار هر ځواب 12 ساعته وخت اټکل شوی دی. د دغو فشارونو د اټکل لپاره د اړوندو نظریاتو استول یا د معلوماتو راټولولو هر بل اړخ څخه چې په هغه کې د فشار راکمولولو وړاندېزونه هم شامل دي: د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدمات، د څارنیزې همغږۍ څانګه ، د پالیسي او ستراتیژۍ دفتر، 20

Massachusetts Ave NW, Washington, DC 20529-2140. OMB No. 1516-0067

ته واستوئ. د **I-589 بشپړ شوی فورم په دغه پته مه پست کوئ**

**[ 14مخ ]**

**I-589 فورم ضمیمې**

**I-589فورم ، A ضمیمه - A.II. برخې** څخه د استفادې او بشپړولو لپاره

**I-589 فورم، A ضمیمه** - د **A.II برخې** د استفادې او بشپړولو لپاره.

**فورم I-589، B ضمیمه - B** او **C برخو** څخه د استفادې او بشپړلو او د غوښتنلیک د هر بلې برخې لپاره اضافي معلومات

یوازې د غیر رسمي استفادې لپاره